# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحد صوبہ

اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز پیر مورخہ 5 اکتوبر 2009ء بمطابق 15 شوال 1430ھ صبح دس بجکر پینتالیس منٹ پر منعقد ہوا۔

جناب سپیکر، کرامت اللہ خان مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

---

## تلاوت کلام پاک اور اسکا ترجمہ

اَعُوذُ بِاللّٰہِ مِنَ ٱلشَّيۡطَـٰنِ ٱلرَّجِيمِ۔ بِسۡمِ ٱللّٰهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔

وَلَا تَقۡرَبُواْ مَالَ ٱلۡيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحۡسَنُ حَتَّىٰ يَبۡلُغَ أَشُدَّهُ ۚ وَأَوۡفُواْ بِٱلۡعَهۡدِ ۖ إِنَّ ٱلۡعَهۡدَ كَانَ مَسۡـُٔولاً Oوَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ إِذَا كِلۡتُمۡ وَزِنُواْ بِٱلۡقِسۡطَاسِ ٱلۡمُسۡتَقِيمِ ۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٌ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلاً O وَلَا تَقۡفُ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٌ ۚ إِنَّ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡبَصَرَ وَٱلۡفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَـٰٓئِكَ كَانَ عَنۡهُ مَسۡـُٔولاً Oوَلَا تَمۡشِ فِى ٱلۡأَرۡضِ مَرَحًا ۖ إِنَّكَ لَن تَخۡرِقَ ٱلۡأَرۡضَ وَلَن تَبۡلُغَ ٱلۡجِبَالَ طُولاً ۝ صَدَقَ ٱللّٰهُ ٱلۡعَظِيمِ۔

(ترجمہ): ارشاد ہے۔ مال یتیم کے پاس نہ پھٹکو مگر احسن طریقے سے یہاں تک کہ وہ اپنے شباب کو پہنچ جائیں۔ عہد کی پابندی کرو بے شک عہد کے بارے میں تم کو جواب دہی کرنی ہو گی۔ پیمانے سے دو تو پورا بھر کر دو اور تولو تو ٹھیک ترازو سے تولو یہ اچھا کام ہے اور بلحاظ انجام بھی یہی بہتر ہے۔ کسی ایسی چیز کے پیچھے نہ لگو جس کا تمھیں علم نہ ہو۔ یقیناً آنکھ، کان اور دل سب ہی کی باز پرس ہونی ہے، زمین میں اکڑ کر نہ چلو تم نہ زمین کو پھاڑ سکتے ہو اور نہ پہاڑوں کی بلندی کو پہنچ سکتے ہو۔ و آخِرُ الدَعۡوَانا أَنِ ٱلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ ٱلۡعَـٰلَمِينَ۔

## نشانزدہ سوالات اوران کے جوابات

Mr. Speaker: جزاکم اللہ ۔ 'Question`s Hour': Question No. 343. Mr. Adnan Khan Wazir, MPA. Not present. Malik Qasim Khan Sahib, MPA, to ask his Question No. 400.

* 400 _ ملک قاسم خان خٹک: کیاوزیر برائے تعمیرات وخدمات ازراہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) آیا یہ درست ہے کہ ضلع کرک میں Escalation کیلئے ٹھیکہ دیا گیا ہے;

(ب) اگر (الف) کا جواب اثبات میں ہو تو گزشتہ پانچ سالوں کے دوران مذکورہ ٹھیکوں کو کتنی رقم فراہم کی گئی، سال وائز بتائی جائے؟

جناب امیر حیدر خان (وزیر اعلیٰ) (جواب وزیر قانون نے پڑھا): (الف) جی نہیں۔

(ب) جواب اثبات میں نہیں ہے۔

Mr. Speaker: Any supplementary?

ملک قاسم خان خٹک: زمادا ریکویسټ دے چه دے معزز ایوان ته، مونږ ته چه کوم جوابونه راځی نو هغه بالکل غلط دی جی۔ د % 100 ټهیکیدارانو نومونه داسے دی چه هغوی ته Escalation شوے دے۔ سر، جناب منسټر صاحب ته زهٔ دا ریکویسټ کوم چه تاسو دا کمیټئ ته حواله کړئ، د دے انکوائری د اوشی چه پته اولګوی چه بهئ، اسمبلئ ته دا نمونه جوابونه راځی۔بالکل دا Payments شوی دی، مونږه ته پته ده ځکه مونږه داکوئسچن کړے وو۔ اوس دوئ وائی چه نشته نو دا خو جی سوکه خبره ده۔ سر، زهٔ ریکویسټ کوم، زمونږه په دے باندے هیڅ اعتماد نشته۔ زهٔ دے سره اتفاق لرم چه تاسو وینا اوکړئ چه د کوئسچن داسے نمونه جوابونه اسمبلئ ته راځی، دا بالکل غلط دی۔

Mr. Speaker: Minister for Law, please on behalf of the honourable Chief Minister. Ji, Law Miniser Sahib.

وزیر قانون وپارلیمانی امور: اصل کښے سر، دا سوال چه کومے طریقے سره راغلے وو ډیپارټمنټ ته نو هغه سوال دا وو "کہ آیا یہ درست ہے کہ ضلع کرک میں Escalation کیلئے ٹھیکہ دیا گیا ہے؟"، Escalation کیلئے تو ٹھیکہ نہیں دیا جاتا۔ لکه The way this Question is put before the Assembly، دا سوال ټهیک طریقے سره نه دے شوے۔ د دوئ په مقصد مونږه اورسیدو چه په ټهیکو کښے Escalation of prices up to 2%,

5% یا هر څومره چه کیږی، دوئ ته به دا گزارش کوؤ چه مونږه ته یو Specific ټهیکه اوښائی چه په دے ټهیکه کښے Escalation که شوے دے ، هغه Illegally شوے دے ، That was uncalled for یا داسے څه Anomaly point out کړی چه په یو خاص ټهیکه کښے شوے وی۔ اوس لکه داسے سوال مونږه کمیټئ ته ریفر کړو، په دے به څه بحث کیږی؟ په دے باندے خو څه Logical conclusion ته داخبره نه رسی، نو زهٔ به داسے گزارش اوکړم چه دا واپس واخلی۔ هغه ټهیکے د دوئ پوائنټ آؤټ کړی چه هغے کښےEscalationشوے وی په Prices کښے او په غلطه طریقه سره شوے وی۔ Generally کیدے شی چه سیمنټ گران شوی دی یا سریا گرانه شوے ده نو هغه لږ ډیر کیدے شی خو که د هغے نه علاوه شوے وی نو هغه ټهیکه د پوائنټ آؤټ کړی او بالکل کمیټئ ته به ئے راولئ، زمونږ به پرے اعتراض نه وی خو لکه په Form کښے دا کوئسچن، It does not make sense۔ شکریه۔

<u>ملک قاسم خان خټک</u>: سر، دے ټهیک وائی چه ما د دے ټهیکے ذکر، زما کوئسچن دا دے چه چا ته Escalation شوے دے؟ ټهیکه خو بالکل کیدے نه شی۔ په دے کوئسچن کښے قلمی غلطی کیدے شی۔ زما کوئسچن دغه دے چه آیا ټهیکیدار ته په دے کښے Escalation ملاؤ دے او که نه دے ملاؤ؟ نو دغه ریکویسټ مے کړے وو چه زهٔ واقعی منسټر صاحب سره Agree کوم چه دا څه قلمی غلطی شوے ده خو اوس هم دغه ده چه ډیرو ټهیکیدارانو ته دا Escalation شوے دے، آیا دا جائز وو یا نه وو؟ اوس چه داسے شوی دی نو زمونږ دغه ریکویسټ دے چه کومے پورے Escalation خلقو ته ملاؤ دے او هغه په څه صورتحال یو ټهیکیدار ته دومره ناجائزهٔ فائده د حکومت پاکستان، د حکومت صوبه سرحد دومره قیمتی فنډ ضائع کیږی یو سړی ته صرف فائدے رسولو د پاره۔

<u>Mr. Speaker:</u> Sikandar Khan Sherpao Sahib, Any supplementary question please?

<u>جناب سکندر حیات خان شیرپاؤ</u>: په دیکښے زما سپلیمنټری سوال دے جی۔ وزیر صاحب چه کومه خبره اوکړه جناب سپیکر، دوئ دا اووئیل چه دا کوئسچن کلیئر نه دے او که د Specific ټهیکے ذکر اوشی نو بیا کیدے شی چه هغے کښے

Escalation شوے وی، نو زۀ د دوئ نه داتپوس کوم چه جواب کښے خو هغوی Categorically وائی چه 'جی نہیں' ،مونږه هیڅ کښے هم Escalation نه دے کړے نو وزیر د دے وضاحت اوکړی چه آیا بیا دا جواب صحیح دے چه دا کومے خبرے دوئ اوکړے چه کیدے شی چه د Specific تهیکو ذکر اوشی نو بیا به مونږه په هغے باندے Commit کولے شو، نو بیا دوئ دا دے وخت کښے 'جی نہیں' څنګه وئیلی دی؟

جناب سپیکر: جی، منسٹر صاحب۔ جی، منسٹر لاء پلیز۔

وزیر قانون: ماخو په شروع کښے ګزارش اوکړو چه دا سوال کوم ترتیب سره دے ایوان ته راغلے دے، هغه دا وائی چه "Escalation کا ٹھیکہ دیا گیا ہے"، Escalation کا تو ٹھیکہ نہیں دیا جاتا ہے نا جی۔ This is, you may call it typographic error or conceptual error but in the face of it, it is a wrong Question basically. (Laughter)

جناب سپیکر: جی، سکندر خان۔

جناب سکندر حیات خان شیرپاؤ: دا دوئ چه کوم وضاحت اوکړو، هغوی ته خو چه کوم جواب راغلے دے په دے لږ مبهم دے ځکه چه دیکښے دوئ وائی، Categorically وائی چه 'نہیں' ، مطلب چه مونږه هیڅ Escalation نه دے کړے او بیا وزیر صاحب وائی چه Specific د راوړی نو کیدے شی چه بیا په هغے کښے څه خبره به اوکړو یا دغه به اوکړو، نو دوئ د وضاحت اوکړی۔

جناب سپیکر: جی، ملک قاسم خان صاحب۔

ملک قاسم خان خٹک: جی سر، دوئ خو بالکل وائی چه د دوئ دا مطلب دے چه دا Escalation شوے نه دے۔ ما دا وئیلی دی په خپل سوال کښے چه دا Escalation شوے دے خو دوئ وئیلی دی چه نه دے شوے۔ سر، زۀ دا ریکویسټ کوم چه دا کومه خبره ده، دا خو د دے معزز ایوان د پاره یوه زبردسته خبره ده چه دومره غلطه ده، زۀ دا وایم، زۀ دا امید لرلے شمه د ارشد عبدالله صاحب نه چه دوئ به اووائی چه دیکښے مونږه تحقیقات کوؤ او دا کمیټئ ته حواله کوؤ۔ سر، زۀ دا ریکویسټ د دوئ نه کوم۔

جناب سپیکر: جی۔ دا مائیک آن کړئ۔

وزیر قانون: ماخو دا گزارش اوکړو جی چه معزز ایوان ته تهیک سوال راشی نو، دے سوال کوی چه یره، د Escalation تهیکه خو نه وی جی کنه۔

جناب سپیکر: جناب عبدالاکبر خان کا مائیک آن کریں۔

جناب عبدالاکبر خان: جناب سپیکر، انکا Basic مقصد یہ ہے کہ ٹھیکہ میں Escalation ہوا ہے کہ نہیں؟ لیکن لکھا گیا ہے "کہ Escalation کا ٹھیکہ دیا گیا ہے کہ نہیں؟"، تو Escalation کا ٹھیکہ تو نہیں ہوتا، وہ منسٹر صاحب صحیح کہہ رہے ہیں لیکن اگر انکا سوال غلط طریقے سے ٹائپ ہوا ہے، وہ تو الگ بات ہے لیکن جو سوال ہے اس میں تو منسٹر صاحب میرے خیال میں صحیح کہہ رہے ہیں۔

جناب سپیکر: یہ بہتر ہوگا ملک قاسم خان، آپ اس پر فریش کوسچن لے آئیں۔ یہ تھوڑی سی ٹیکنیکل بات اس میں آئی ہے۔ آپ اس پر اور کوسچن Submit کریں۔ Next, Question No. 401. Muhammad Zamin Khan, MPA. Not present. Malik Qasim Khan, MPA, to ask his Question No. 481.

* 481 _ ملک قاسم خان خٹک: کیا وزیر برائے تعمیرات وخدمات از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) آیا یہ درست ہے کہ سال 2001 سے لیکر تا حال آبنوشی کے ٹیوب ویلز، پریشر پمپس اور گریوٹی لائنز کے منصوبوں کی منظوری ہوئی ہے؛

(ب) اگر (الف) کا جواب اثبات ہو تو:

(1) ہر ایک منصوبے کی تفصیل اور اس پر خرچ شدہ رقم کی تفصیل فراہم کی جائے؛

(2) جن ٹھیکیداروں نے مذکورہ منصوبے مکمل کئے ہیں، انکے نام اور ان کو ادائیگیوں کی تفصیل فراہم کی جائے؟

وزیر اعلیٰ (جواب وزیر قانون نے پڑھا): (الف) جی ہاں۔

(ب) ہر ایک منصوبے کی تفصیل، اس پر خرچ شدہ رقم، ٹھیکیداروں کے نام اور انکو ادائیگیوں کی تفصیل لائبریری میں ملاحظہ کی جاسکتی ہے۔

Mr. Speaker. Any supplementary?

ملک قاسم خان خٹک: شکریہ۔ جناب سپیکر، دیکبنے چه دوئ کوم لسټ Provide کړے دے د دے سکیمونو-----

جناب سپیکر: جی۔

ملک قاسم خان خٹک: او بیا د دے کنټریکټرز سر، دا خو ما د 2001 نه وئیلی دی، دوئ ته خو ټوټل چه سکیم لسټ ملاؤ دے، دا سکیم د فضل الله هوټی دے، دوئ لیکلی دی په دے لسټ کښے۔ دا فضل الله هوټی واټر سپلائی سکیم چه دے نو دا زمونږ خپل خیال دے چه د 1985 نه هم مخکښے شوے دے۔ د دے نمونه ځایونو چه داسے لسټ دوئ Provide کړے دے نو سر، زمونږه دا ریکویسټ دے، دا د ټول معزز ایوان وقار دے سر، چه دا نمونه د کوئسچنز غلط جوابونه چه دی، دا به پته اولګی چه دا بالکل ئے کتلی نه دی چه دے معزز ایوان زمونږه نه څه څیز غوښتے دے او دوئ راستوی څه څیز؟ نو زهٔ دا ریکویسټ کوم چه د دے تاسو، د دے ایوان د پاره زهٔ دا وایم جی چه هغوی بالکل دا غلط راستولی دی او دا ترتیب بالکل داسے دے چه کوم سکیمونه وینم، دا ټوټل د 2000 نه مخکښے سکیمونه دی، د پندره سال، د بیس سال سکیمونه دی، لسټ ئے راستولے دے۔ د اسمبلئ د وقار ئے هیڅ خیال نه دے ساتلے نو په دے باندے به زهٔ سپلیمنټری کوئسچن سر، څه اوکړم؟

جناب سپیکر: جی، جناب لاء منسٹر صاحب۔

وزیر قانون: داسے ده جی چه دوئ د خپل سوال اوګوری په دے جز (الف) کښے د 2001 ذکر کوی نو د هغے نه ډیپارټمنټ دا اخذ کړے ده چه د دوئ Interst چه کوم دے نو 2001 and onword دے او داسے دوئ په خپل سوال کښے څه ذکر نه دے کړے چه ما ته تیر شوے د پنځلس کالو یا شل کالو ریکارډ راکړئ نو 2001 خو د هغے کنټریکټرز د Expenditures او Liabilities وغیره هر څه ایئر وائز 2001 نه واخله 2007 پورے دا هر څه ئے دوئ ته برابر کړی دی نو مزید تفصیلات که غواړی نو مونږه ته سپلیمنټری کوئسچن، یو بل کوئسچن د فریش اوکړی۔

جناب سپیکر: قاسم خان صاحب، جی، Any supplementary question، څه په دے باندے شته؟

ملک قاسم خان خٹک: سر، په دیکښے مو دا سپلیمنټری کوئسچن دے چه مونږ ته ئے Clear cut لیکلی دی چه "سال 2001 سے لیکر تاحال آبنوشی کے ٹیوب ویلز، پریشر پمپس اور گریوٹی لائنز کے منصوبوں کی منظوری ہوئی ہے"، ما د دے تفصیل غوښتے دے، لسټ مے غوښتے دے۔ دا لسټ چه دوئ Provide کړے دے، هغه د دے نه مخکښے سکیمونه چه کوم شوی دی، هسے یو فرضی لسټ ئے Provide کړے دے، اسمبلئ ته ئے صحیح صورتحال نه دے ښودلے نو زمونږه دا یقین دے چه دا کوئسچن چه کوم راغے، د معزز ایوان چه ډیر تقدس پامال کیږی جی، که چرے تاسو په دیکښے د انکوائرئ آرډر اوکړئ چه دا کوئسچن کوم دے، د دے جواب ئے صحیح نه دے ورکړے نوبیا زهٔ ریکویسټ کومه۔۔۔۔

جناب سپیکر: ستاسو په خیال د 2001 نه دا نه دے، دا ډیر زاړه سکیمونه دی؟

ملک قاسم خان خٹک: زاړه سکیمونه دی بالکل، بالکل۔

جناب سپیکر: ہاں جی۔

ملک قاسم خان خٹک: بالکل دا زاړه سکیونه چه کوم دی نو د 2001۔۔۔۔

جناب سپیکر: د 2001 نه تاحال، جی، لاء منسټر صاحب، څه وائی دا معزز ممبر صاحب؟

وزیر قانون: دا سے به اوکړو جی چه دا متعلقه۔۔۔۔۔۔

Mr. Speaker: Year wise.

وزیر قانون: دا سے ده جی چه متعلقه چه کوم چیف انجینئر دے، هغه ناست دے نو بریک ټائم کښے به ورسره کښینو، څه چه انفارمیشن د دوئ پکار وی، ټول به ورله ورکړو۔ چه څه تاسو غواړئ، هغه انفارمیشن به درته ملاؤ شی۔

Mr. Speaker: Ji, satisfied?

ملک قاسم خان خٹک: سر، اول خو ستاسو په نوټس کښے دا راولم چه ما وئیلی دی "پریشر پمپس، گریوٹی لائنز اور ٹیوب ویلز"، خو په دیکښے لائنز نه دی ښودلی شوی، پریشر پمپس نه دی ښودلی شوی، صرف یو څو ټیوب ویلونه چه زاړه جوړ دی، د هغے لسټ ئے Provide کړے دے۔ مونږ خو دا نوے، 2001 نه د ایم ایم اے

گورنمنټ چه کوم سکیمونه کړی دی نو د هغے تفصیل غوښتے دے۔ سر، که تاسو اوګورئ په دیکښے د یو لائن نامه نشته دے۔ په دیکښے د یو پریشر پمپ نامه نشته۔ دا د یو زوړ ټیوب ویل لائن سر نه شروع شوے دے او دغسے یو فرضی فهرست ئے راستولے دے۔ زمونږه دا ریکویسټ دے چه تاسو ئے یو کمیټئ ته حواله کړئ۔ په دے باندے چه ارشد عبدالله د کومے پورے Insist نه کوی، زهٔ دوئ ته ریکویسټ کوم د دے هاؤس د پاره جی څه نمونه جوابونه چه دا ډیپارټمنټ ورکوی او د دے هاؤس دوئ سره څومره پورے خیال دے، سر؟

<u>جناب سپیکر</u>: جی، لاء منسټر صاحب، دا دوئ چه څه وائی چه دا لسټ تاسو بره لیکلے دے، د 2001 نه 2007 پورے دے، خو دوئ وائی چه دا هغه نه دی۔ تاسو څه وایئ جی؟

<u>وزیر قانون</u>: زما خو داسے ګزارش دے چه یره په بریک ټائم کښے د کښینی، څه انفارمیشن د دوئ پکار وی، هغه به ورته ملاؤ شی۔ که بیا هم Satisfy نه شو نو بس ټهیک ده، بیا Next line of action به د هغے نه پس اختیار کړو۔

<u>جناب سپیکر</u>: جی، ملک قاسم خان صاحب۔

<u>ملک قاسم خان خٹک</u>: ټهیک شوه سر، زهٔ به ورسره کښینم خو دا کوئسچن هغے پورے پینډنګ کړئ، سر۔

<u>جناب سپیکر</u>: ټهیک شوه۔ تاسو ورسره کښینئ، که بیا Satisfy نه شوئ نو دا به پینډنګ وی۔ Next زرقا بی بی، سوال نمبر؟ جی، بی بی! کوئسچن نمبر لږ اووایئ۔

<u>محترمہ زرقا بی بی</u>: کوئسچن نمبر 489 ۔

<u>جناب سپیکر</u>: ہاں جی، کوئسچن نمبر 489۔

* 489 _ <u>محترمہ زرقا بی بی</u>: کیا وزیر برائے تعمیرات وخدمات از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) آیا یہ درست ہے کہ وزیر اعلیٰ صاحب صوبہ سرحد کے حکم پر محکمہ کی کارکردگی کو بہتر بنانے کے ضمن میں ایک اعلیٰ سطحی کمیٹی تشکیل دی گئی ہے؛

(ب) آیا یہ درست ہے کہ محکمہ ہذا کی کارکردگی درست کرنے کیلئے مزدور تنظیم پی ڈبلیو ڈی لیبر یونین سی۔بی۔اے کے تجربہ کار نمائندوں سے فائدہ اٹھانے کیلئے ان کو کمیٹی میں شامل کیا گیا ہے؛

(ج) اگر (الف) و (ب) کے جوابات اثبات میں ہوں تو کمیٹی کی اب تک کی کارروائی کی تفصیل فراہم کی جائے؟

<u>وزیر اعلیٰ</u> (جواب وزیر قانون نے پڑھا): (الف) جی ہاں، یہ درست ہے کہ وزیر اعلیٰ صاحب صوبہ سرحد نے محکمہ ورکس اینڈ سروسز کی کارکردگی کا جائزہ لینے اور اس کو بہتر بنانے کیلئے مندرجہ ذیل افسران پر مشتمل ایک اعلیٰ سطحی کمیٹی تشکیل کرنے کی منظوری دی ہے:

| | |
|---|---|
| 1۔ ڈائریکٹر جنرل (ایم اینڈ ای) محکمہ پی اینڈ ڈی | کنونیر |
| 2۔ سپیشل سیکرٹری محکمہ اسٹیبلشمنٹ | رکن |
| 3۔ مینجنگ ڈائریکٹر فرنٹیئر ہائی ویز اتھارٹی | رکن |
| 4۔ چیف اکانومسٹ محکمہ پی اینڈ ڈی | رکن |
| 6۔ ایڈیشنل سیکرٹری محکمہ خزانہ | رکن |

جز (الف) میں دی گئی کمیٹی کی تشکیل سے واضح ہے کہ محکمہ ہذا کی کارکردگی درست کرنے کیلئے مزدور تنظیم پی ڈبلیو ڈی لیبر یونین سی بی اے کے تجربہ کار نمائندوں کو کمیٹی میں شامل نہیں کیا گیا ہے۔

کمیٹی کے متعدد اجلاس منعقد ہو چکے ہیں جس سے محکمہ ورکس اینڈ سروسز کی تشکیل نو کے بارے میں متعدد تجاویز پر غور کیا گیا۔ کمیٹی کی رائے میں محکمہ ورکس اینڈ سروسز کا اگست 2001 سے پہلے والا تنظیمی ڈھانچہ بحال کرنا مناسب ہوگا۔ اسکے علاوہ تعمیر عامہ کے معیار کو بہتر بنانے کیلئے ضلع و ڈویژنل سطح پر مٹیریل ٹیسٹنگ لیبارٹریز کے قیام کی نشاندہی بھی کی گئی ہے۔ دیگر اقدامات میں تعمیر عامہ کے منصوبوں کی بہتر تیاری کیلئے Consulting Architect کے دفتر کی بحالی اور سروے ڈویژن کے قیام پر بھی اتفاق رائے ہے۔ محکمہ ورکس اینڈ سروسز کا دوسرا ذیلی ادارہ پبلک ہیلتھ انجینئرنگ ہے، اسکی تشکیل نو کے بارے میں محکمانہ تجاویز زیر غور ہیں۔ ان تجاویز کا جائزہ لینے کے بعد کمیٹی اپنی مکمل سفارشات حکومت کو پیش کرے گی۔

<u>جناب سپیکر</u>: Any supplementary? بل سوال تاسو کوئ څه؟ جی، وایئ۔

محترمہ زرقابی بی: زما دا کوئسچن دے په دے (ب) جز کښے چه دوئ پی ډبلیو ډی لیبر یونین نه تجربه کار کسان اغستی دی یا نه دی اغستی په دے کمیټۍ کښے ، نو دوئ وئیلی دی چه نه، نو دوئ د ما ته وجه اوښائی او د هغے وجه د ما ته بیان کړے شی۔

جناب سپیکر: لاء منسٹر صاحب، پلیز۔

وزیر قانون: داسے ده جی چه دا خو د ډیپارټمنټ Restructuring یا د ډیپارټمنټ Over all management چه کوم بره سینیئر افسران دی، لکه ګریډ 20 یا Above یا دغه لیول، اوس په دیکښے دوئ وائی چه یره لیبر یونین نه تاسو پکښے کسان ولے نه دی اغستی، نو دا خو زهٔ نه پوهیږم، دا خو د حکومت یو خپل دغه وی چه خپل سینیئر افسران راغونډ کړی او هغوی په هغے باندے غور و خوض اوکړی۔ اوس په دیکښے لیبر نمائندګان مونږه څنګه کښینوؤ جی؟ لکه دا خو چرته کښے شوی نه دی، نه په تاریخ کښے شوی دی او زما خیال دے څه عجیبه غوندے سوال دے۔

Mr. Speaker: Ji Zaqa Bi Bi, satisfied?

محترمہ زرقابی بی: جی زهٔ Satisfied یمه۔

Mr. Speaker: Thank you.

جناب منور خان ایڈوکیٹ: جناب سپیکر صاحب، په دے سلسله کښے زما یو ضمنی سوال دے۔

جناب سپیکر: جی، معزز ممبر صاحب کا مائیک آن کریں۔

جناب منور خان ایڈوکیٹ: شکریه، سر۔ په دے سلسله کښے چه سر، دوئ کومه خبره کوی چه یره مونږه د دے محکمے کارکردګی ټهیک کولو د پاره، په دے سلسله کښے زهٔ د لکی ډسټرکټ یو ویلج دے بیګوخیل، هلته کښے یو روډ دے سر، نو د هغے د Causeways د پاره کنټریکټر ته ټهیکه هم ورکړے شوے ده خو هغه Causeways، تقریباً درے څلور Causeways دی چه هغه اوسه پورے دغسے پرتے دی او نن حالات دا دی چه هغه خلقو هغه روډ پریښودے دے، کچه باندے ځی، نو زما داریکویسټ دے چه کم از کم چه دوئ کارکردګی ټهیک کول غواړی نو دا یو کال راسے دے Causeway ته مټیریل هم ئے اچولے دے خو لا

اوسه پورے هغه Complete شوے نه ده، چه آیا د دوئ کارکردگی اوسه پورے دغه شان ده نو مزید به څه کیږی؟

جناب سپیکر: منور خان صاحب! دا دے کوئسچن سره Related دے؟

جناب منور خان ایڈوکیٹ: داRelated دے لکه دوئ وائی چه "آیا یہ درست ہے کہ وزیراعلیٰ صوبہ سرحد کے حکم پر محکمہ کی کارکردگی کو بہتر بنانے کے ضمن میں"، سر، د دوئ کارکردگی، لکه کم از کم چه روډ دے، یو Causeway دے او د هغے د جوړولو د پاره، نو د دے کارکردگی کم از کم په ډسټرکټ لیول چه هغے باندے کوم چیک دے، آیا دا د دوئ په دائره اختیار کښے راځی که نه؟ نو زما دا ریکویسټ دے چه د لکی ډسټرکټ چه کوم ای ډی او دے یا ایکسیئن دے، هغوی ته د کم از کم دا انسټرکشنز ورکړے شی چه دا زر زر Complete شی۔ شکریه، سر۔

جناب سپیکر: جی، منسٹر لاء جواب دے دیں۔

وزیر قانون: یو جی زما په خیال دا Relevant سوال نه دے، د سپلیمنټری زمره کښے نه راځی۔ دویمه خبره دا ده جی چه دا دوئ یو Specific پراجیکټ پوائنټ آؤټ کړو نو ښه به دا وی چه یو فریش کوئسچن په دے باندے دوئ راوړی چه د هغے Specific answer، د هغے پراجیکټ متعلق یا دغه چه کوم سکیم دوئ Identify کړو، د هغے Causeway متعلق به ورله بیا مونږه Specific answer ورکړو او هسے به خیر دے مونږه ډیپارټمنټ ته د دوئ دا خبره اوکړو او لوکل ای ډی او ته به اووایو چه دغه سکیم چه کوم دوئ پوائنټ آؤټ کړو چه دا دوئ زر تر زره مکمل کړی خو بهرحال Exact details خو مونږه سره په دے وخت کښے نشته نو که فریش کوئسچن پرے راولی نو زیات به ښه وی۔

جناب سپیکر: جی منور خان صاحب، ستاسو-----

جناب منور خان ایڈوکیٹ: سر، دوئ دا وائی چه دا Relevant question نه دے، دوئ وائی چه د محکمے کارکردگی ټهیک کولو والا خبره که وی، نو آیا دا د دوئ کار نه دے چه په دیکښے د لکی ډسټرکټ چه کوم سټاف دے د یو کال راسے کار Complete کوی نو د دوئ د کارکردګۍ څه جواز دے؟ دوئ خبره کوی چه دا Irrelevant question دے۔

جناب سپیکر: جی منسٹر صاحب، د هغوی پرفارمنس دا دے، پرفارمنس د ډیپارټمنټ، تاسو چه کومه تسلی ورکړه چه ــــ

وزیر قانون: ما خو د غه تسلی په فلور ورکړه ـــــ

جناب سپیکر: هغوی چه کوم ځائے Pinpoint کړو ـــــ

وزیر قانون: او جی ما ته لګه چټ هم راغے چه کوم پراجیکټ وی نو دغه به They will take care of it and he will be informed accordingly، خو زۀ دا وئیل غواړمه چه دا کوم سوال دے، دا داسے دے چه 'اپر مینجمنټ لیول' باندے Restructuring of the department، لکه پی ډبلیو ډی کښے دوه درے ډیپارټمنټس، ورکس اینډ سروسز، دا بیا ټول Merge شو، د هغے نه بیا د پروموشن پرابلمز راغلل، نورے داسے ډیرے خبرے پکښے راغلی دی، اوس په دغے باندے بیا سوچ کیږی چه دا دوباره بیل بیل شی او پبلک هیلتھ د بیل کړی او د هغوی د افسرانو د پروموشن مسئلے وی۔ د هغے نه علاوه 'ټیسټنګ لیبارټریز' چه کوم دی، دوئ ډویژن او ډسټرکټ لیول ته بوځی او 'کنسلټنسی فرمز' بیا Re-establish شی، د دغه لیول خبرے کوؤ۔ We are now going in specific projects ، خوګوری په زرګونو سکیمز د ورکس اینډ سروسز په ټولے صوبے کښے روان دی نو په دے سوال که اوس دا ټول ایوان راپاڅیدل غواړی، بالکل راپاڅیدے شی، د هر چا په ډسټرکټ کښے بلا سکیمونه روان دی نو زما ګزارش به دا وی چه یا د دوئ فریش کوئسچن راوړی که نه وی نو افسرانو صاحبانو نوټ کړل او هغوی به خپل Progress دوئ سره انشاء الله Share کړی او دوئ به بیا Inform کړی۔

جناب سپیکر: جی، منور خان صاحب۔

جناب منور خان ایڈوکیټ: دوئ سر، عجیبه غوندے وائی چه Performance of the departments، چه یو پرفارمنس ئے Show کړے وے کنه، نو ما ته به نن د دے څیز نوبت هم نه پیدا کیدو چه ما سپلیمنټری کوئسچن راوړے وے چه کارکردګی ئے ټهیک وے او یو کال راسے دا کار دغسے پروت دے، It means چه د دے پرفارمنس صحیح نه دے کنه۔ نو زما سر، د دے مقصد نور نه دے، زما صرف دا

ریکویسٹ دے چه کم از کم دا کار د زر تر زره Complete شی، مٹیریل ئے هم راوړے دے، سر۔

جناب سپیکر: دا سپلیمنٹری کوئسچن خو نه جوړیږی خو ډیپارټمنټ ته وینا ده چه کوم ځائے دوئ اوښودلو۔۔۔۔۔۔

جناب منور خان ایڈوکیٹ: بیګوخیل۔

جناب سپیکر: هغه ځائے چه څنګه دوئ غواړی چه په هغے د کار شروع شی او ورته د هدایت اوکړی۔ جی، ملک قاسم خان صاحب۔

ملک قاسم خان خٹک: جی، سر۔ سر، دلته دوئ په دے خپل جواب کښې وائی چه "کمیٹی کے متعدد اجلاس منعقد ہو چکے ہیں جس سے محکمہ ورکس اینڈ سروسز کی تشکیل نو کے بارے میں متعدد تجاویز پر غور کیا گیا"، او دغه نمونه د پبلک هیلتھ دا خبرے د ډیر وخت نه اورو۔ آیا وزیر صاحب ښائیلے شی څه Limited time چه دا به کله پورے تنظیم نو کیږی او څومره وخت به په دیکښے لګی چه دا بے چینی ختمه شی او په پبلک هیلتھ انجینئرنګ، پبلک ورکس ډیپارټمنټ او په دے نورو کښے شدید چه مایوسی پهیلاؤ ده د ډیر وخت نه، نو که منسټر صاحب په دے فلور باندے یقین دهانی راکړی چه دا به په څومره ټائم کښے ممکنه شی چه دا تنظیم نو اوشی چه دا مسئله حل شی۔

جناب سپیکر: جی، لاء منسټر صاحب۔

وزیر قانون: په جواب کښے خو ډیر Clear cut مونږ محکمے ته لیکلی دی چه مونږه د ټیوب ویل د پاره مشینری، مکمل سامان اغستے دے، واپډا ته د هغے Payment شوے دے، دا اوس Lapse چه کوم دے۔۔۔۔۔

(قطع کلامی)

وزیر قانون: واورئ جی جواب خو لږ واورئ کنه۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: قاسم خان صاحب، تاسو کښینئ، منسټر صاحب جواب درکوی جی۔

وزیر قانون: اوس دا Lapse چه رارواں دے، دا د واپډے اړخ نه رارواں دے نو ټهیک ده، As a Department we are responsible، مونږه کوؤ خو دوئ ته هم

گزارش کوؤ چه داسے کوم ځائے کښے د دوئ خپلے د حلقے پرابلمز دی نو لږ پخپله هم Initiative د اخلی او واپډے والا سره د خبره کوی چه ولے واپډے والا ، تاسو خپل کار نه کوئ؟ مونږه به هم کوؤ خو دوئ ایم پی ایز دی، دوئ زیات زورآور خلق دی په خپل Local politics کښے نو دوئ د هم خپل کار ته لږ Focus کوی۔

جناب سپیکر: جی ملک قاسم خان صاحب، څه وایے ، بیا څه وایے ، Satisfy نه شوے ؟

ملک قاسم خان خٹک: نه جی، زما خو کوئسچن دا نه دے ، زهٔ خو د زرقابی بی په سپلیمنټری ولاړ یم، ما سپلیمنټری کړے دے ، سر۔

جناب سپیکر: هغه خو مطمئنه شوه ، کښینا سته جی، اصلی خاتون خو-----

ملک قاسم خان خٹک: زما خو یو بل کوئسچن راغلے نه دے جی، دا خو د زوړ کوئسچن په سپلیمنټری لګیا یم، زما سپلیمنټری دا دے۔

جناب سپیکر: دا د زرقا بی بی کوم کوئسچن چه دے کنه جی-----

ملک قاسم خان خٹک: په هغے کښے زهٔ په سپلیمنټری ولاړ یمه۔

جناب سپیکر: اوس دا روان دے جی۔

ملک قاسم خان خٹک: زما سپلیمنټری دا دے چه تاسو ما ته فلور راکړے دے ، زهٔ په سپلیمنټری باندے لګیا یم چه پبلک هیلتھ انجینیئرنګ ډیپارټمنټ-----

جناب سپیکر: په هغے باندے زما رولنګ هم راغے ، ستاسو کوئسچن پینډنګ دے ، وروستو به تاسو Satisfy کړی ، تاسو کښینئ جی، بس۔

ملک قاسم خان خٹک: زما دا کوئسچن نه دے ، تاسو ما ته فلور راکړے دے ، ما ته مو اجازت راکړے دے-----

جناب سپیکر: بالکل۔

ملک قاسم خان خٹک: جناب سپیکر ، ما سپلینمټری کړے دے-----

جناب سپیکر: دا ورکس اینډ سروسز دے کنه، ورکس اینډ سروسز تاسو ډسکس کوئ، تاسو پبلک هیلتھ ته ځئ کنه۔

ملک قاسم خان خٹک: نه، نه، ځکه چه پبلک هیلتھ په دیکښے شامل دے ، سر۔

جناب سپیکر: څه وائی چه ټائم باندے ستاسو کوئسچن دے۔

ملک قاسم خان خٹک: زما سپلیمنټری دے-----

(شور)

ملک قاسم خان خٹک: نه جی، تاسو ما ته فلور په سپلیمنټری راکړے دے۔

جناب سپیکر: د معزز ممبر صاحب حق جوړیږی چه سپلیمنټری کوئسچن اوکړی جی۔ ممبر صاحب، ملک قاسم خان صاحب، تاسو شارټ کټ، کوم کوئسچن چه تاسو کوئ، هغه په ورکس اینډ سروسز باندے تاسو راشئ۔

ملک قاسم خان خٹک: ما جی، دا دغه کولو۔

جناب سپیکر: تاسو بیا پبلک هیلتھ ته روان شئ۔

ملک قاسم خان خٹک: نه جی، د ورکس اینډ سروسز کوئسچن نمبر 489 باندے زما سپلیمنټری دے ، په هغے کښے پبلک ورکس ډیپارټمنټ دے۔ پبلک هیلتھ ته دا تنظیم نو عظیمه مسئله ده او د ډیر وخت نه ده۔ سر، زما ریکویسټ دغه دے چه آیا منسټر صاحب یا حکومت دا بنائیلے شی چه دا تنظیم نو به کله پورے مکمل شی چه دا خلق چه کوم دے ، چه د دوئ په منسټرئ کښے کار دے-----

جناب سپیکر: پوهه شومه۔

ملک قاسم خان خٹک: مخصوص ټائم د رنه غواړو، سر۔

حاجی قلندر خان لودھی: جناب سپیکر۔

جناب سپیکر: جی، قلندر خان لودھی صاحب، ستاسو پکښے څه سپلیمنټری ده؟

حاجی قلندر خان لودھی: شکریہ، جناب سپیکر۔ جناب سپیکر، میرا اسکے متعلق یہ ہے، 489 کے متعلق کہ بار بار میرے بھائی کہہ رہے ہیں کہ پبلک ہیلتھ اور سی اینڈ ڈبلیو کو یہ Mix up نہیں کر رہے ہیں، تو آیا ان کا سیکرٹری اب ایک ہے، سی اینڈ ڈبلیو اور پبلک ہیلتھ کا؟

جناب سپیکر: نہیں، وہ ایک ہی ڈیپارٹمنٹ Consider ہے۔

حاجی قلندر خان لودھی: اس سے پہلے اس طرح تھا جی، ان کے S.Es تھے، ان کے علاوہ XENs تھے، ان کے SDOs تھے، وہ Change ہوکر EDOs ہوگئے، DDOs ہوگئے، ADOs ہوگئے۔ یہ بہت سارے لوگ دوسرے محکموں میں جب Merge ہوگئے تو اس سے بہت ساروں کی سینیارٹی پر فرق پڑ گیا۔ ان کی کارکردگی پہلے یہ تھی کہ پبلک ہیلتھ ایک Independent department تھا جو باہر کے ڈونرز کے ساتھ ان کی Delegation وغیرہ ہوتی تھی، بہت سارے پانی کیلئے یہ اپنا ورک کرتے تھے، کام کرتے تھے۔ اب جب یہ محکمہ، سی اینڈ ڈبلیو پبلک ورکس میں Merge ہوگیا تو اس کی سینیارٹی، مطلب ہے پبلک ہیلتھ کا جو سینیئر انجینئر تھا، وہ ہمارا چیف انجینئر بن گیا روڈ اینڈ ورکس کا، اس سے محکمے کی کارکردگی میں کافی سارا فرق پیدا ہوگیا، تو اس کو علیحدہ علیحدہ کیا جائے۔ تو اس سوال میں ہماری سپلیمنٹری بھی یہی ہے اور اس میں یہ پوچھا گیا ہے کہ یہاں ان کی کارکردگی کیلئے ان کو علیحدہ کیا جائے، تو کب تک، اس پر گورنمنٹ کتنا ٹائم لے گی۔

جناب سپیکر: جی منسٹر صاحب! تر کومه پورے به د دے کارکردگی لړه بنه شی؟

وزیر قانون: دے باندے Already recommendations راغلی دی۔ د دے کمیټۍ Recommendations put up شوی دی ګورنمنټ ته، چیف منسټر صاحب ته خو دیکښے دے وخت کښے Stay order دے د هائیکورټ، نو دغه لړ لیګل پوزیشن به ئے چیک کوؤ نو د هغے مطابق به بیا فیصله کیږی ځکه چه پینډنګ کیسز دی۔ دا کیس چه دے، دا Subjudice دے Before the High Court، نو کیدے شی چه د دغے د لاسه لړ دغه وی خو بهرحال زمونږ کوشش به دا وی انشاء الله چه زر تر زره دا Restructuring اوشی جی خو څه Definite ټائم فریم نه شو ورکولے۔

جناب سپیکر: ملک قاسم خان صاحب! تسلی اوشوه که نه جی؟

ملک قاسم خان خٹک: سر، زمونږ ریکویسټ دا دے، زۀ دا نه وایم چه دا، زۀ دا وایم چه دے دا راته اوښائی چه کال کښے به مونږه دا اوکړو خو دا خو د درے کالو نه دا مسئله لګیا ده، مونږ مخصوص ټائم غواړو چه څومره ټائم کښے به دا اوشی؟ اوس دا خو پینځه کاله کیدے شی چه د هائیکورټ پکښے Stay وی، څه

طریقه کار، څومره وخت به لګی چه د خلقو هغه مایوسی ختمه شی، په قوم کښې هم مایوسی ده او په ډیپارټمنټ کښې هم مایوسی ده، سر۔

جناب سپیکر: جی، تاسو د ممبر تسلی او کړئ چه مونږ به۔۔۔۔

وزیر قانون: نو تسلی خوئے مونږه کوؤ جی۔ د قوم د مایوسئ نه خو چرے نه یو خبر چه دا قوم په پبلک هیلتھ دومره مایوسه دے خو بهرحال کوشش به دا وی انشاء الله، Definite time frame مونږ په دیکښې نه شو ورکولے، لکه دا ډیرے پیچیده مسئلے دی خو کوشش به دا وی چه زر تر زره انشاء الله۔۔۔۔

جناب سپیکر: شکریہ۔ جی، ملک قاسم خان صاحب! کوئسچن نمبر 496۔

* 496 _ ملک قاسم خان خٹک: کیاوزیر برائے تعمیرات وخدمات ازراہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) آیا یہ درست ہے کہ تخت نصرتی یونین کونسل، جہانگیری موضع سیرک بانڈہ میں ٹیوب ویل نمبر1 کی بورنگ گزشتہ سالوں کے دوران کی گئی تھی؛

(ب) آیا یہ بھی درست ہے کہ موضع مذکورہ میں دوسرا ٹیوب ویل نمبر2 چالو حالت میں ہے؛

(ج) اگر (الف)و(ب) کے جوابات اثبات میں ہوں تو:

1۔ ٹیوب ویل نمبر2 کب چالو کیا گیا ہے؛

2۔ آیا حکومت ٹیوب ویل نمبر1 چالو کرنے کا ارادہ رکھتی ہے، تفصیل فراہم کی جائے؟

وزیر اعلیٰ (جواب وزیر قانون نے پڑھا): (الف) جی ہاں۔

(ب) جی ہاں۔

(ج) 1۔ ٹیوب ویل نمبر2 سیرک بانڈہ سال 2007-08 میں چالو کیا گیا ہے۔

2۔ جی ہاں، مذکورہ ٹیوب ویل کی مشینری خرید لی گئی ہے، محکمہ واپڈا کو ادائیگی بھی کی گئی ہے مگر واپڈا نے مذکورہ سکیم کو تاحال Energize نہیں کیا ہے۔ واپڈا کی طرف سے کام مکمل ہونے کے بعد ٹیوب ویل کو چالو کیا جائے گا۔

Mr. Speaker: Any supplementary.

ملک قاسم خان خٹک: سر، دا زمونږ په حلقه کښې یو واټر سپلائی سکیم دے، دا مرحوم محمد اسلم خان خټک چه د دے هاؤس سپیکر پاتے شوے دے او د هغه ټائم نه اونیسه، د 1988 نه دا سکیم ولاړ دے، صرف یوه کمره ده او دا فنډز ټول

Provide دی، مونږ ریکویسټ دا کړے دے چه آخر کار دا به کله جوړیږی؟ آنریبل منسټر صاحب خبره اوکړه، د دے نه مخکښے چه دا کوئسچن شوے نه وو، سر، مونږ باقاعده Review meeting کړے وو، واپډے سره باقاعده زۀ په رابطه کښے یم۔ اوس جی دا ټیوب ویل، اوبه او هوا، دا یو ضروری شے دے د انسان د پاره، دوئ ته پته ده چه د کرک د اوبو څه صورتحال دے، 1988 نه دا یو سکیم دے، صرف یوه کمره ده پکښے او بار بار د دے پیسے خوړلے شی، نو 1988 سکیم اوسه پورے څرنګه نه مکمل کوی؟

جناب سپیکر: او خلق پرے تنخواګانے هم اخلی۔

ملک قاسم خان خټک: او خلق خو کیدے شی چه تنخواګانے پرے اخلی، دا مونږ ته پته نشته څکه چه په فلور آف دی هاؤس غلطه خبره، جی یو کمره ده د 1988 نه، د اسلم خټک صاحب د وخت نه۔۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: جی، منسٹر لاء، پلیز جواب دیں۔

وزیر قانون وپارلیمانی امور: دا جی تاسو د دوه ټیوب ویلونو خبره کوئ که د ټیوب ویل نمبر 2 خبره کوئ تاسو؟

ملک قاسم خان خټک: سر، زۀ د دے ټیوب ویل خبره نه کوم، دا نمبر 2 چه دے، زۀ د دے بل ټیوب ویل خبره کوم چه هغه د 1988 نه دغسے کنډر ولاړ دے۔ سر، دوه ځله، درے ځله د هغے کمرے خلقو یوړے، خښتے خلقو یوړے۔۔۔۔

جناب سپیکر: دا چه کوم تاسو سیرک باندہ بنایئ کنه، ټیوب ویل نمبر1، دا د هغے خبره کوئ که بله پکښے راااووتله؟

ملک قاسم خان خټک: یو ټیوب ویل سیرک باندہ کښے نمبر 1، هغه چالو دے، چه دا اوس نوے جوړ دے، دے زوړ ټیوب ویل نه مخکښے چه جوړ دے، یو ټیوب ویل د ظفر اعظم په وخت کښے جوړ دے، دا چالو دے، یو ټیوب ویل زوړ دے، د 1988 نه دا ټیوب ویل دے، درے ځله دے ته پیسے مختص شوے، کمره پرے جوړه شی، خلق ئے یوسی۔

جناب سپیکر: جی۔ منسٹر صاحب۔ جی، منسٹر لاء، پلیز۔

وزیر قانون: د قاسم خان جی د ټیوب ویل نمبر 1 په حواله سره دا سوال وو چه آیا د دے ټیوب ویل نمبر1 "بورنگ گزشتہ سالوں کے دوران کی گئی تھی"، جواب دے، 'جی ہاں'۔ بیا "آیا یہ درست ہے کہ موضع مذکورہ میں دوسرا ٹیوب ویل نمبر2 بھی چالو حالت میں ہے؟"، جواب ہے 'جی ہاں'، خبره دا ده چه تاسو په یو نمبر دا چه کوم ټیوب ویل نمبر1 دے، د هغے تاسو د بورنگ متعلق سوال کړے دے، د هغے جواب ئے درکړے دے جی۔

ملک قاسم خان خټک: زۀ د ټیوب ویل نمبر1 خبره کوم چه د مرحوم اسلم خان خټک په ټائم کښے په 1988 کښے جی د دے سکیم بور شوے دے او په هغے باندے کمره، هغه اوسه پورے چالو نه دے۔ دیکښے شک نشته چه دیکښے واپډے ته پیسے Deposite کړے دی خو آخر څومره پورے، هغے کښے واپډے والا وائی چه دیکښے مونږ ته Less deposit شوے دے نو سر، زۀ دا ریکویسټ کوم چه آخر د 1988 نه او نن 2009 کښے سکیم ولے نه کیږی؟

وزیر قانون: دا 2 نمبر چه کوم دے، د دۀ سوال کښے دوه خبرے دی۔ اولنئ دے د ټیوب ویل نمبر1 خبره کوی، د هغے تپوس ئے دا کړے دے چه د دے "بورنگ گذشتہ سالوں میں کی گئی ہے"، د هغے جواب مونږ ورکړے دے چه شوے دے۔ دا ټیوب ویل نمبر2 چه کوم دے، دا 08-2007 والا سکیم دے او د دے جی مکمل مشینری اغستلے شوے ده او دے ته Payment جمع شوے دے خو بس دا لږ ډیر د کوآرډینیشن مسئلے دی، دا واپډا لږه ډیره تیز ول غواړی۔ مونږ به ئے هم کوؤ، دوئ ته هم گزارش دے چه یره د دوئ د خپلے حلقے سکیمونه دی، دوئ د هم لږ خان Mobilize کړی۔

جناب سپیکر: نو دا د سن 1988ء نه تر دے وخت پورے نه Energize کیږی؟

وزیر قانون: نه، نه جی، 08-2007 کښے دا، اوگورئ دا 'ج' چه کوم-----

ملک قاسم خان خټک: نه جی-----

جناب سپیکر: دا 08-2007 والا خو وائی چه چالو دے-----

وزیر قانون: 08-2007 کښے جی دا سکیم دےاو سن 1988ء والا چه کوم دے ، دا دے د اے ایس ټی اوز والا زړه خبره کوی۔

ملک قاسم خان خټک: سر، دا د سن 1988ء سکیم دے ، دا د مرحوم اسلم خان خټک په ټائم کښے شوے وو، بور شوے وو، اوسه پورے دا چالو نه دے۔

جناب سپیکر: تاسو کښینئ جی، تا سو کښینئ، زهٔ ترے تپوس کومه کنه ستاسو په ځائے۔

وزیر قانون: دا جی، دا ئے لیکلی دی-----

جناب سپیکر: دا د سن 1988ء والا سکیم بنائی چه دا تر اوسه چالو نه دے ، دا به کله چالو کیږی؟

وزیر قانون: جی مونږه دا وایو چه یره د دے Payment هر څه شوی دی، دا د سن 1988ء نه دے جی، دا دیکښے ئے لیکلی دی چه د 08-2007 والا سکیم دے ، دا نمبر 2 چه کوم دے او-----

ملک قاسم خان خټک: ایک نمبر۔

وزیر قانون: د ایک نمبر خو صرف د بورنګ خبره دهٔ کړے ده، هغه بورنګ خو شوے دے کنه۔

جناب سکندر حیات خان شیرپاؤ: جناب سپیکر، زهٔ ئے لږ Explain کوم۔

جناب سپیکر: منسټر صاحب د وضاحت اوکړی بیا۔

وزیر قانون: دا ایک نمبر چه دے ، دا خو چالو حالت کښے دے ، د دے خو لکه چه بورنګ شوے دے ، مطلب دا دے چه دا خو چالو حالت کښے دے ، دے نه خو دے انکار نه شی کولے او دا دویم نمبر چه دے ، دا 08-2007 والا دے نو زما په خیال ډیپارټمنټ بنه ټهیک طریقے سره مکمل جواب ورکړے دے ، په دیکښے خو د سپلیمنټری کوئسچن څه سکوپ ما ته نه ښکاری۔

ملک قاسم خان خټک: جناب سپیکر!-----

جناب سپیکر: جی ملک قاسم خان صاحب۔

جناب سکندر حیات خان شیرپاؤ: جناب سپیکر۔

جناب سپیکر: تاسو ئے بنه Explain کولے شئ سکندر خان، تاسو اووایئ؟ دوئ څه وائی۔

جناب سکندر حیات خان شیرپاؤ: وزیر صاحب د دا مونږ ته اووائی چه دا ټیوب ویل نمبر1 چه دے، د دے بورنګ کله شوے دے او آیا دا چالو حالت کښے دے او که نه او که چالو حالت کښے نه دے نو څه پرابلم دے پکښے؟ دغه د مونږ ته Explain کړی نو زما خیال دے چه د قاسم خان دا خبره به حل شی۔

جناب سپیکر: خبره هم دا ده جی۔ دا کوئسچن چه دے چه ټیوب ویل نمبر 1 اوس څه پوزیشن کښے دے، چالو حالت کښے دے که نه دے؟

وزیر قانون: داسے ده جی دا چه څه دوئ سوال کړے دے چه آیا د دے بورنګ شوے دے، نو مونږ پکښے جواب ورکړے دے چه جی هاں، بورنګ ئے شوے دے۔ مزید تفصیل دوئ نه دے غوښتے۔ مزید تفصیل به ډیپارټمنټ والا ناست دی، هغوی نه به۔۔۔۔

جناب سپیکر: دا (ج) کښے دویم نمبر جز اوګورئ، 'ج' کښے دویم نمبر جز اوګورئ۔

وزیر قانون: نه، نه، هغه دویم یادوی، نه جی، دوئ اولنی ته ځی۔

جناب سپیکر: 'ج' کښے دو نمبر جز اوګوره جی۔

وزیر قانون: "آیا حکومت ٹیوب ویل نمبر1 چالو کرنے کا اررادہ رکھتی ہے، تفصیل فراہم کی جائے"، جواب "جی ہاں"، نو دا خو جواب مونږ ورکړے دے چه دا اخیرنے چه کوم د دوئ سوال دے کنه جی، چه دغه کښے Payment، مشینری هر څه راغلی دی او هغوی ته Payment شوے دے خو دا د کوم وخت سکیم دے؟ دا ډیټیل نشته، دا به ترے ورله واخلو۔

جناب سپیکر: قاسم خان صاحب! تسلی د کیږی که نه؟

ملک قاسم خان خٹک: نه سر، تسلی مے نشته۔ زهٔ به خپل ورور ته دا ریکویسټ کوم چه د 1988 نه دا۔۔۔۔

جناب سپیکر: دا کبنیني جی، تاسو کبنینئی،-----

ملک قاسم خان خٹک: بنه۔

جناب سپیکر: د سن 1988 نه بور شوے دے، بجلی ورته نه Provide کیږی، ډیپارټمنټ ته انسټرکشنز ورکړئ چه دا پورا تاسو ته راپریږدی او فوری ئے چالو کړی۔

وزیر قانون: ٹهیک شو جی۔

جناب سپیکر: مخکبنے جی، Next-----

سردار شمعون یار خان: جناب سپیکر، ایبٹ آباد میں بھی یہی مسئلہ ہے۔

جناب سپیکر: ہاں جی، سردار صاحب کا مائیک آن کریں۔ جی، سردار شمعون صاحب۔

سردار شمعون یار خان: شکریہ جی۔

جناب سپیکر: جی سپلیمنٹری کوئسچن؟

سردار شمعون یار خان: جی ہاں۔

جناب سپیکر: یہ لمبا ہو گیا ہے، کوئسچن بہت لمبا ہو رہا ہے۔

سردار شمعون یار خان: ایک منٹ لگے گا۔

جناب سپیکر: جی، بسم اللہ۔

سردار شمعون یار خان: ایبٹ آباد میں بھی اس طرح کا معاملہ ہے ٹیوب ویلز کے حوالے سے اور غالباً دو سال پہلے ان پر کام شروع ہو گیا تھا-----

جناب سپیکر: کہاں پہ؟

سردار شمعون یار خان: ایبٹ آباد میں۔

جناب سپیکر: نہیں، دوسرا کوئی ٹیوب ویل-----

سردار شمعون یار خان: ایبٹ آباد میں نئے ٹیوب ویلز پر کام شروع ہوا تھا آج سے تقریباً دو سال پہلے اور ابھی تک ان کا کام مکمل نہیں کیا گیا اور آخری مراحل تک وہ پہنچ گیا اور واپڈا کو اس کی Payments بھی کر دی گئی ہیں، تو یہ بتایا جائے کہ ابھی تک کیوں ان کا کام مکمل نہیں کیا جا رہا ہے، کوتاہی کیا ہے، کس وجہ سے؟

جناب سپیکر: اس پر سردار صاحب، بہتر ہوگا کہ کوئسچن لے آئیں، یہ اس وقت جواب نہیں دے پا سکیں گے۔

سردار شمعون یار خان: اسی حوالے سے ہی ہے، ٹیوب ویل کی بات چل رہی ہے تو میرا خیال ہے اگر منسٹر صاحب بتادیں یا کوئی ایسی بات کر دیں کہ اس کا کام مکمل ہو جائے کیونکہ میں اس پر کوئسچن بھیجوں گا تو اس پر بہت ٹائم لگے گا۔

جناب منور خان ایڈوکیٹ: جناب سپیکر، سپلیمنٹری۔

جناب سپیکر: یہ فریش کوئسچن ہے جی۔ منور خان صاحب! ستاسو هم سپلیمنټري کوئسچن دے؟

جناب منور خان ایڈوکیٹ: جی زهٔ د دے متعلق صرف دا وضاحت کوم سر، چه دا پرابلم د ټول، چه کوم دا آنریبل ممبران دی،-----

جناب سپیکر: د ټولے صوبے دے۔

جناب منور خان ایڈوکیٹ: نه نه سر، صرف د واپډا نه دا مسئله جوړه ده۔ ټیوب ویلونه د پبلک هیلته نور هر څه ئے Complete کړی دی، Payment هم ورته شوے دے نو واپډا والا اوسه پورے ټرانسفارمر نه ورکوی چه بجلی Energize شی چه دا ټیوب ویلونه چالو شی۔ مهربانی اوکړئ تاسو په خپل ډائریکشن کښے واپډا والو ته دا خبره اوکړئ چه چرته ټیوب ویلونه دی او Payment ورته شوے دے نو هغه ټول د کم از کم Complete کړی نو دا مسئله د ټولو ممبرانو ده سر، دا صرف یو زما او د بل چا نه ده، دا د ټولو مسئله ده۔

جناب سپیکر: دا ټهیک شوه جی۔ وزیر صاحب! تاسو جواب ورکړئ۔

وزیر قانون: جناب سپیکر صاحب، دا سے به اوکړو جی۔ د دوئ خو دا جنرل خبره ده، دوئ ټهیک وائی، This is relevant، مونږه د ډیپارټمنټ د اړخه چه کوم سیکرټري صاحب دے، هغوی ته به دا هدایت ورکړو چه تاسو پیسکو چیف سره خپل ځان برابر کړئ او خپل سکیمونه ورته Identify کړئ چه کوم کوم ځائے کښے تاسو Payment کړے وی او هلته ټیوب ویل Energize شوے نه وی نو د هغے ترے تپوس پکار دے چه ولے نه دے شوے؟ نو چه هغه مونږ Pursue کړو،

نو This we will do inshallah او کاپی به بیا اسمبلئ ته رااولیږو۔ څنګه چه مناسب وی، دغه به اوکړو۔ شمعون صاحب کا جو سوال ہے، تو ڈیپارٹمنٹ والوں کے ساتھ ان کو بٹھالیں گے، ان کا جو مسئلہ ہے، انشاء اللہ وہ حل کرالیں گے۔ Even though it is a fresh question لیکن Still ان کا خیال رکھیں گے۔

جناب احمد خان بہادر: جناب سپیکر، دے سره Related مسئله ده۔

جناب سپیکر: جی احمد خان بہادر! سپلیمنٹری کو کسچن؟ یہ منور خان اور سردار صاحب محکمے والوں کے ساتھ بیٹھ کے کرینگے لیکن Generally صوبے میں جو واپڈااور ڈیپارٹمنٹ کے بیچ جو کمی آرہی ہے، اس میں پوری وہ لسٹ بھی میرے خیال میں اگر ڈیپارٹمنٹ تیار کرے تو یہ واقعی صحیح ہے۔ میرے حلقے میں خود بھی یہی ہو رہاہے، بہت عرصے سے Payment جمع ہو چکی ہے اور وہ نہیں ہو رہاہے تو واپڈا کے ساتھ یہ Liaison ہونا چاہیئے اور یہ گورنمنٹ کا پیسہ ویسے ہی پھنسا ہواہے، اس کو Pursue کیا جائے۔ احمد خان بہادر۔

جناب احمد خان بہادر: جناب سپیکر، زما هم دغه مسئله ده۔ زما په یونین کونسل مهابت آباد کښے جی په بهرام خان کلی کښے په ډیرو غټو پیسو ټیوب ویل شوے وو، زما خیال دے د هغے به څلور یا څلور نیم کاله شوے وی او په هغے باقاعده چوکیدار شته، د هغے نه چاردیواری شوے ده، په هغے کمره شته، زما په خیال هغه ټیوب ویل به اوس خراب شوے هم وی حالانکه واپډے ته هغه وخت کښے د نن نه څلور کاله مخکښے څلور لکهه او دیرش زره روپئ جمع کړے شوے وے، پبلک هیلتهـ ډیپارټمنټ ورته جمع کړے وے۔ د هغے باوجود تر اوسه پورے نه ټرانسفارمر مونږ له ئے راکړو جی، نه ئے مونږ ته هغه پولونه اولګول، نه هلته کنکشن برابر شو۔ نو زما دے سره هم دا ګزارش دے چه مهربانی اوکړئ دا د قوم پیسه ضائع کیږی، اخوا ته کروړونه روپئ اولګیدے، واپډے ته Payment اوشو، د هغے باوجود اوس هغوی دوباره وائی د دے مونږ معلومات کوؤ چه آیا دا ریټونه سیوا شوی خو نه دی؟ نو مهربانی اوکړئ چه دے واپډے سره تاسو په خپل لیول باندے واخلئ، که د واپډے چیف راغواړئ، که هر څوک راغواړئ چه دا مسئله زمونږ حل شی۔

جناب سپیکر: جی بنه به دا وی چه د چا هم داسے پینډنګ مسئله وی کنه، نو دا لسټ جوړ کړئ د دغه ټیوب ویلونو، پخپله ټول ممبران زمونږ سیکرټریټ کښے دا جمع کړئ نو په هغے باندے به د واپډے حکام هم راوغواړو او ډیپارټمنټ به هم راوغواړو۔ جی، Next ۔

بیگم شازیہ اورنگزیب خان: جناب سپیکر، پوائنٹ آف آرڈر۔

جناب سپیکر: جی، بی بی! تاسو څه وایئ؟

بیگم شازیہ اورنگزیب خان: السلام علیکم جی، ډیره موده پس مو اوکتئ، بنه لګئ چه په هاؤس کښے تاسو ناست یئ۔ جناب۔۔۔۔

جناب سپیکر: بی بی! په 'کوئسچنز آور' کښے پوائنټ آف آرډر بیا وروستو پیش کړئ، بیا وروستو۔۔۔۔

بیگم شازیہ اورنگزیب خان: نه جی پوائنټ آف آرډر، دا ډیر Important دغه دے۔۔۔

جناب سپیکر: نه وروستو به ئے اوکړئ کنه، 'کوئسچنز آور' کښے دا نه شئ کولے۔

بیگم شازیہ اورنگزیب خان: نه جی، Actually ستاسو په Absence کښے دلته کښے یو بم بلاسټ شوے وو په تهانړه منډان شاه بنوں کښے، هغلته کښے انتظامیه چه کومه صوبائی ده یا د هغه ځائے۔۔۔۔

جناب سپیکر: دا وروستو بیا را ولئ جی، وروستو به تاسو ته ټائم درکړو۔

بیگم شازیہ اورنگزیب خان: د بیس کروړ پراپرټی۔۔۔۔

جناب سپیکر: محترمہ ساجدہ تبسم صاحبہ۔

بیگم شازیہ اورنگزیب خان: دا جی ډیره ضروری خبره ده۔

جناب سپیکر: دا وروستو جی بیا اووایئ۔

بیگم شازیہ اورنگزیب خان: دا د هغوی د پراپرټی خبره ده۔

جناب سپیکر: وروستو چه بیا پرے سینکشن واخلو۔ دا 'کوئسچن آور' دے، دیکښے د ډیپارټمنټ او د معزز اراکینو بلا مسائل دی، هغه ډسکس کیږی۔ دیکښے

تاسو دا وخت نه شئ کولے ، رولز اجازت نه راکوی، وروستو به بیا تاسو ته ټائم درکړم۔

بیگم شازیہ اورنگزیب خان: ډیره Important خبره وه۔

جناب سپیکر: وروستو به تاسو ته ټائم ملاؤ شی جی۔ ساجده تبسم صاحبه۔ ساجده تبسم بی بی، سوال نمبر 505۔

* 505 _ محترمہ ساجدہ تبسم: کیاوزیر برائے تعمیرات وخدمات ازراہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) آیا یہ درست ہے کہ ضلع مانسہرہ کو گزشتہ دو سالوں یعنی 07-2006 اور 08-2007 کے دوران مرمت کیلئے ایم اینڈ آر کی مد میں فنڈ دیا گیا ہے؛

(ب) آیا یہ بھی درست ہے کہ مذکورہ فنڈ سے نئی سڑکیں بھی بنائی گئی ہیں؛

(ج) اگر (الف) اور (ب) کے جوابات اثبات میں ہوں تو مذکورہ عرصہ کے دوران ضلع مانسہرہ میں کتنا فنڈ خرچ کیا گیا ہے اور کتنی نئی سڑکیں تعمیر کی گئی ہیں، مکمل تفصیل فراہم کی جائے؟

وزیراعلیٰ (جواب وزیر قانون نے پڑھا): (الف) جی ہاں۔

(ب) جی نہیں، ڈپٹی ڈائریکٹر ورکس اینڈ سروسز کے مطابق مذکورہ فنڈز سے کوئی نئی سڑک نہیں بنوائی گئی ہے۔ ضلعی حکومت مانسہرہ نے ڈپٹی ڈائریکٹر ورکس اینڈ سروسز مانسہرہ کو ایم اینڈ آر کی مد میں سال 07-2006 میں 37.500 ملین روپے جبکہ 08-2007 میں 6.000 ملین روپے مہیا کئے گئے تھے جو کہ سڑکوں کی مرمت پر خرچ کئے گئے ہیں۔ (تفصیل لائبریری میں ملاحظہ کی جاسکتی ہے)

Ms. Sajida Tabassum: Thank you, Speaker Sahib, I am satisfied, no supplementary question.

جناب سپیکر: Next, کوئسچن نمبر 517، محمد زمین خان ایڈوکیٹ۔ زمین خانه! مخکښنے تیر شوے Lapse شوے دے ، اوس تا سره 517 نمبر دے ، هغه اووایه جی۔ کوئسچن نمبر 517۔

* 517 _ جناب محمد زمین خان: کیاوزیر برائے تعمیرات وخدمات ازراہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) آیا یہ درست ہے کہ مالی سال 09-2008 میں کریشن پروگرام کیلئے فنڈز مختص کئے گئے ہیں؛

(ب) اگر (الف) کا جواب اثبات میں ہو تو:

(i) مذکورہ مد میں کل کتنا فنڈ مختص کیا گیا ہے؛

(ii) ضلع مردان، چارسدہ، ملاکنڈ ایجنسی اور دیر پائیں کیلئے مختص شدہ اور تاحال خرچ شدہ فنڈ کی مکمل تفصیل فراہم کی جائے؟

<u>وزیراعلیٰ</u> (جواب وزیر قانون نے پڑھا): (الف) جی ہاں۔

(ب) (i) مذکورہ مد میں کل 720 ملین روپے مختص ہیں۔

(ii) مذکورہ مد میں ضلع مردان، چارسدہ اور ملاکنڈ کیلئے جو رقم مختص کی گئی ہے، ان کی تفصیل درج ذیل ہے:

| | |
|---|---|
| مردان | 391.192 ملین روپے |
| چارسدہ | 73.084 ملین روپے |
| ملاکنڈ | 37.177 ملین روپے |

جبکہ دیر پائین کیلئے اس مد میں کوئی رقم مختص نہیں کی گئی ہے۔

ضلع مردان میں خرچ شدہ رقم کی تفصیل مندرجہ ذیل ہے:

| | |
|---|---|
| 1۔ بحالی و پختگی مل بائی پاس روڈ، ضلع مردان | 47787146 |
| 2۔ کشادگی سڑک از ٹکر تا شاخ نمبر 6 اور خادی کلے، ضلع مردان | 99801198 |
| 3۔ بحالی و پختگی سڑک از کالج چوک تا عدل چوک کچہری، ضلع مردان | 15074408 |
| 4۔ بحالی و پختگی سڑک از اڈہ چوک تا چارسدہ چوک، ضلع مردان | 11220354 |
| 5۔ بحالی و پختگی سڑک شیر گڑھ تا ہاتھیان، ضلع مردان | 24359905 |
| 6۔ بحالی و پختگی سڑک از سرکٹ ہاؤس تا فضل حق کالج، ضلع مردان | 25336386 |
| 7۔ بحالی و پختگی سڑک از بغدادہ چوک تا گوجر گڑھی، این سی روڈ | 12607716 |
| 8۔ بحالی سڑک از میر افضل خان چوک تا گولڈن سنیما براستہ پیرانو ڈاگہ | 8458735 |
| ضلع مردان میں کل خرچ شدہ رقم | 244645848 |

ملاکنڈ میں خرچ شدہ رقم کی تفصیل مندرجہ ذیل ہے:

| | |
|---|---|
| 1۔ مرمت و دوبارہ بحالی طوطہ کان میخ بند روڈ | 10754000 |
| 2۔ بہتری / دوبارہ بحالی غونڈو ر روڈ | 399439 |
| 3۔ مرمت / دوبارہ بحالی آماندرہ الہ ڈھنڈ تھانہ روڈ | 11028830 |

ملاکنڈ میں کل خرچ شدہ رقم۔ 22182269

ضلع چارسدہ میں خرچ شدہ رقم کی تفصیل مندرجہ ذیل ہے:

1۔ مرمت / بحالی سڑک تخت بھائی رجڑ روڈ 15 کلو میٹر 5.922 ملین

2۔ ری کنڈیشنگ آف روڈ از گل آباد نہر تا منی خیلہ اعراب پل براستہ ایریگیشن ڈاگ بنگلہ، 3 کلو میٹر 2.970 ملین

3۔ بلیک ٹاپنگ آف روڈ از منگا اعراب پل تا ار سلا کلے، 4 کلو میٹر 6.442 ملین

4۔ بلیک ٹاپنگ آف روڈ از بھوسہ خیل تا مرزاگان براستہ پرانا ڈی ایچ او آفس، 500 کلو میٹر 0.926 ملین

5۔ امپرومنٹ آف کشادگی بہلولہ بازار تا تخت بھائی رجڑ روڈ لنکینگ گل آباد مردار روڈ، 8.5 کلو میٹر 18.322 ملین

6۔ بلیک ٹاپنگ آف جماعت روڈ اعراب پل، 2.5 کلو میٹر 3.091 ملین

7۔ بلیک تاپنگ آف روڈ از لیو کل کراسنگ درانیا نو کورونہ تا کلاڈھیر، 1.5 کلو میٹر 2.017 ملین

8۔ بلیک ٹاپنگ آف رروڈ از سپین پل تا شینکئی پل، 1 کلو میٹر 1.390 ملین

9۔ امپرومنٹ / کشادگی آف چارسدہ ترناب چینہ روڈ، 9 کلو میٹر 8.710 ملین

10۔ بحالی سڑک از ناگمان چارسدہ روڈ تا پلہ ڈھیرے بمعہ شولگرہ میرہ خیل، 5.5 کلو میٹر 2.841 ملین

11۔ بحالی سڑک نستہ، شپانو کندھے مشرف شاہ باچہ شاپ تا شیخ جی بابا زیارت، 1 کلو میٹر 1.719 ملین

12۔ بحالی سڑک اسلام آباد نمبر 1 ڈھیرے کورونہ تا ڈاگ بنگلہ، 1 کلو میٹر 1.699 ملین

13۔ بحالی سڑک از ڈبہ جان خان روڈ تا اکبر آباد کشمیر یانو کلے، 1.5 کلو میٹر 2.040 ملین

14۔ بحالی سڑک از مین تا حصارہ، 2 کلو میٹر 3.465 ملین

چارسدہ میں کل خرچ شدہ رقم 61.554 ملین

<u>Mr. Speaker:</u> Any supplementary, please?

جناب محمد زمین خان: کیا وزیر برائے تعمیرات و خدمات ازراہ کرم یہ ارشاد فرمائیں گے کہ آیا یہ درست ہے کہ مالی سال 09-2008 میں کریش پروگرام کیلئے فنڈز مختص۔۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: سپلیمنټری کوئسچن پکښې اوکړئ جی، جواب خو۔۔۔۔

جناب محمد زمین خان: دیکښې سر، جواب خو راغلے دے، دیکښې زما ګزارش دا دے، ضمنی کوئسچن چه آیا دا دیر پائیں په دیکښې ولے نه دے شامل کړے شوے او د دے د شاملولو د حکومت څه اراده شته او که نشته؟ ځکه چه هلته خو په دے موجوده حالت کښې ټول انفراسټرکچر تباه شوے دے نو لږ د په دے باندے۔۔۔۔

Mr.Speaker: Minister Law, please on behalf of Honourable Chief Minister.

جناب منور خان ایڈوکیٹ: جناب سپیکر، سپلیمنٹری۔۔۔۔

حافظ اختر علی: جناب سپیکر۔

جناب سپیکر: دا لږ لیکئ بیا ځان سره، دا یو یو۔ منور خان۔ منور خان پسے اختر علی صاحب۔ یو منټ۔ منور خان، پلیز۔

جناب منور خان ایڈوکیٹ: سر، د دے کریش پروګرام کښې چه دا کوم دوئ ډسټرکټس ته ورکړی دی، مردان، چارسده، ملاکنډ، آیا صرف دا کریش پروګرام د دے ډسټرکټس د پاره وو که آیا د نورو ډسټرکټس هم په دیکښې شیئر شته؟ مطلب دا دے چه ولے تر اوسه پورے مونږ ته شیئر نه دے ملاؤ شوے، سر؟

جناب سپیکر: جی حافظ اختر علی صاحب۔

حافظ اختر علی: شکریه جی۔ جناب سپیکر صاحب، زما ضمنی سوال دا دے چه دا دوئ کوم جواب ورکړے دے نو دیکښې ضلع مردان کښې په اول نمبر "بحالی و پختگی مل بائی پاس روڈ، ضلع مردان"، په دے باندے پیسے لګیدلی دی چار کروړ ستتر لاکھ، ستاسی هزار، ایک سو چھیالیس روپئ لیکن د روډ چه کومے موجوده خامیانے دی نو هغه یو سوالیه نشان دے، نو آیا مونږه تپوس کوؤ چه د دغے خامیانو د لرے کولو د دوئ څه اراده شته؟

ملک قاسم خان خٹک: سپلیمنٹری، سر۔

جناب سپیکر: ملک قاسم خان صاحب۔

ملک قاسم خان خٹک: سر ، لکه څه رنګه چه منور خان صاحب اووئیل چه دا کریش پروګرام د ټولے صوبے د هر ضلعے د پاره دے-----

جناب سپیکر: دا د هغوی سپلیمنټری پکښے راغے۔ بل پکښے ستا سو څه سپلیمنټری شته ؟

ملک قاسم خان خٹک: بس دغه مے دے چه د دے د تقسیم څه طریقه کار دے ؟

جناب سپیکر: سپورټ کوئ ئے تاسو۔ د منور خان کوئسچن تاسو سپورټ کوئ ؟

ملک قاسم خان خٹک: د تقسیم څه طریقه کار ئے دے ؟

جناب سپیکر: ټهیک شوه۔ جی منسټر لاء، پلیز۔

وزیر قانون: چه کوم Mover دے ، زمین خان صاحب ته به دا Assurance ورکوؤ چه انشا ءالله دیر او لوئر ډسټرکټس چه کوم دی ، هغه به هم ، راتلونکی کالونو کښے انشاء الله کریش پروګرام کښے به نور ډسټرکټس، فریش ډسټرکټس به پکښے اچوؤ خو بهرحال په تیر شوی کښے دا درے ډسټرکټس وو او هغه راتلونکی کښے به د نورو ډسټرکټس شمولیت وی او د روډ په حواله سره چه دوئ د بائی پاس مل روډ والا خبره اوکړه نو په دیکښے چه د دوئ څه تحفظات وی ، هغه د مونږ ته ډیټیل راکړی چه یره دا دا پرابلمز ورته پکښے On the face of it په ظاهره ښکاری نو د هغے به ډیپارټمنټ نه تپوس اوکړو چه دا ولے دا سے دغه دے ؟

جناب عبدالاکبر خان: جناب سپیکر صاحب۔

جناب سپیکر: ہاں جی۔

(شور)

جناب عبدالاکبر خان: نہیں-----

(قطع کلامیاں)

جناب عبدالاکبر خان: نہیں، آپ جب بھی کرینگے تو-----

جناب سپیکر: ابھی 'کوئسچنز آور' ہے، اس پہ کیسے ڈسکشن ہوگی؟

جناب عبدالاکبر خان: نہیں، میں صرف نوٹس کی بات کر رہا ہوں۔ نوٹس-----

جناب سپیکر: نوٹس زبانی نہیں، In writing، آپ تو لاء میں ماسٹر ہیں۔ جی حافظ اختر علی صاحب، ستاسو تسلی اوشوه جی؟

حافظ اختر علی: سپیکر صاحب، مونږه دا وایو چه دوئ د انسټرکشنز ورکړی۔ په هغے کښے یقیناً ډیرے خامیانے دی او هغه موجوده دے وخت کښے، زۀ خپله پرون نه هغه بله ورځ تلے یمه نو زمونږه دا درخواست دے چه هغوی ته د انسټرکشنز ورکړی چه د هغے تکمیل اوکړی او د هغے نه هغه موجوده خامیانے ټولے لرے شی۔

جناب محمد ظاہر شاہ خان: جناب سپیکر، سپلیمنٹری۔

جناب سپیکر: ظاهر شاه صاحب! ستاسو څه سپلیمنټری سوال شته جی؟

جناب محمد ظاہر شاہ خان: او جی۔ دا درے ضلعے ئے چه په کریش پروګرام کښے راویشتی دی، یو مردان ده، دا خو د چیف منسټر صاحب ضلع ده، ملاکنډ د وزیر خزانه ضلع ده خو دا چارسده ستاسو ده که نه د چا ده؟ یا د وزیر قانون ده؟ د دے متعلق لږ غوندے دغه اوکړئ جی-----

(شور)

جناب محمد ظاہر شاہ خان: لکه شانګله پکښے نشته او چارسده پکښے شته۔

جناب سپیکر: جی زمین خانه، ته څه وایے؟

جناب محمد زمین خان: زما ګزارش دا دے چه چونکه Already نوټس ورکړے شو نو دا-----

جناب سپیکر: زۀ جواب ورکوم-----

جناب محمد زمین خان: نو د دے ضرورت پکښے نشته دے۔ اوس-----

جناب سپیکر: بیا ډیټیل ډسکشن به هسے هم، چه دا نوټس راغے نو په هغے باندے به کیږی، نو زما په خیال د دے نه مخکښې ځو جی۔ ملک قاسم خان صاحب۔

ملک قاسم خان صاحب، نن خو تهول فلور ستا دے۔ جی سوال نمبر 530، قاسم خان صاحب۔

* 530 _ <u>ملک قاسم خان خٹک</u>: کیاوزیر برائے تعمیرات وخدمات ازراہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) آیایہ درست ہے کہ موضع لاغڑی بانڈہ، ضلع کرک کاٹیوب ویل نمبر1بہت عرصہ سے بیکار پڑا ہے;

(ب) آیایہ بھی درست ہے کہ ٹیوب ویل کا عملہ ڈیوٹی کے بغیر گھروں پر تنخواہ لے رہاہے;

(ج) آیایہ بھی درست ہے کہ ٹیوب ویل مذکورہ میں بجلی کاریگولیٹر،ٹرانسفارمر وغیرہ بے کار پڑے ہیں;

(د) آیایہ بھی درست ہے کہ موضع مذکورہ کاٹیوب ویل نمبر2محکمے کی نظر میںDamageہونے کے قریب ہے;

(ح) اگر(الف)تا(د)کے جوابات اثبات میں ہوں تو:

1۔ کیاحکومت مذکورہ موضع میں ٹیوب ویل نمبر1کوٹھیک کرنے کاارادہ رکھتی ہے;

2۔ آیاحکومت ٹیوب ویل مذکورہ کاعملہ کسی اور جگہ ایڈجسٹ کرنے کاارادہ رکھتی ہے;

3۔آیاحکومت ٹیوب ویل نمبر1کے ریگولیٹر،ٹرانسفارمر وغیرہ کوٹیوب ویل نمبر2جوکہ چالو حالت میں ہے،منتقل کرنے کاارادہ رکھتی ہے;

4۔آیاحکومت ٹیوب ویل نمبر2جوDamageہونے کے قریب ہے، کی جگہ دوسراٹیوب ویل لگانے کا ارادہ رکھتی ہےتاکہ علاقے کے عوام کوپینے کے پانی کامسئلہ پیدانہ ہو؟

<u>وزیراعلیٰ</u> (جواب وزیرقانون نے پڑھا): (الف) جی ہاں۔

(ب) جی نہیں۔

(ج) ٹیوب ویل نمبر1موضع لاغڑی بانڈہDamagedہے۔ٹرانسفارمر ریگولیٹر کی نگرانی متعلقہ سٹاف کررہاہے۔

(د) جی ہاں۔

1۔ جی ہاں۔

2۔ جس سکیم کیلئے ضرورت پڑجاتی ہےتواس عملہ سے وہاں پرڈیوٹی لی جاتی ہے۔

3۔ جی نہیں۔

4۔ مذکورہ ٹیوب ویل کی مرمت کیلئے ضلعی حکومت کرک نے محکمہ پی اینڈڈی کو PC I بغرض منظوری بحوالہ چٹھی No. 36/128/P&D/MPA/PF-41 ارسال کی ہے۔ فنڈز دستیاب ہونے کے بعد اس کی مرمت کی جائیگی۔

ملک قاسم خان خٹک: جناب والا، زما ټیوب ویل دے-----

جناب سپیکر: جی ټیوب ویل څه وائی جی؟

ملک قاسم خان خٹک: دا زمونږ ګیاره ټیوب ویلونه خراب دی، په هغے کښے دا لاغړی بانډه شامله ده جی۔ سوله، اتهاره میهنے خو زمونږه د الیکشن اوشوے، د دے نه چه څلور کاله مخکښے زمونږ دا ټیوب ویلونه خراب دی، اوس دیکښے دوئ د دے کوئسچن دا جواب کوی چه "آیا یہ درست ہے کہ مذکورہ ٹیوب ویل کا عملہ ڈیوٹی کے بغیر گھروں پر تنخواہ لے رہا ہے"، دوئ وائی چه "جی نہیں" بیا وروستو وائی چه "آیا یہ بھی درست ہے کہ ٹیوب ویل مذکورہ میں بجلی کا ریگولیٹر، ٹرانسفارمر وغیرہ بیکار پڑے ہیں"، نو وائی چه "ٹیوب ویل نمبر 1 موضع لاغڑی بانڈہ Damage ہے، ٹرانسفارمر، ریگولیٹر کی نگرانی متعلقہ سٹاف کر رہا ہے۔" جناب والا، دے د پاره خو یو چوکیدار وی، څلور کسان تنخواه خوری په یو ټرانسفارمر او یو ریګولیټر باندے او څومره تنخواګانے ئے پرے رااوښکلی دی او دا زمونږ ټیوب ویلونه به کله جوړیږی؟ زمونږ خو دا د سات سال نه Damage دی او دا لیټر ورسره لګیدلے دے سر، تهٔ اوګوره چه کله دا باقاعده پی اینډ ډی ته راغلے دے Rehabilitation نه او د دے باقاعده مانیټرنګ ټیم معائنه کړے ده سر۔ اوس زما دا ټیوب ویلونه به کله جوړیږی؟ خلق په تکلیف کښے دی، سر۔

جناب اکرم خان درانی (قائد حزب اختلاف): جناب سپیکر۔

جناب سپیکر: جی منسٹر صاحب۔ جی اکرم خان درانی صاحب۔

قائد حزب اختلاف: جناب سپیکر، چونکه د ټیوب ویل خبره راغله نو د ټولے صوبے یو اهم غوندے ایشو دے، هغه زهٔ ستاسو په وساطت د منسټر صاحب مخے ته ایږدم۔ په دے تیر زمونږ ګورنمنټ کښے د ایریګیشن نه واپډا ته Payment شوے دے نو هغه بروقت واپډا ټرانسفارمر مهیا کړے نه دے، ستنے ئے ورکړی نه

جناب ثاقب اللہ خان چمکنی: ډیره مهربانی، جناب سپیکر صاحب۔ "یہ اسمبلی صوبائی حکومت اور گورنر صوبہ سرحد کی وساطت سے وفاقی حکومت کی توجہ پچھلے سال کے سیلاب کی تباہ کاریوں کی طرف مبذول کرانا چاہتی ہے جس میں پشاور ضلع بشمول ریگی للمہ اور پی ایف 1، 7، 8 کے لاکھوں لوگ بے گھر

ہو گئے اور کھڑی فصلیں تباہ ہو گئیں۔ علاوہ ازیں ہر سال آنے والے سیلابوں کے نتیجے میں تباہ کاریوں کا حل تمام کوششوں کے باوجود صوبائی حکومت کے دائرہ اختیار اور وسائل سے بالاتر ہے۔ صوبائی حکومت کے تمام متعلقہ محکموں کی متفقہ رائے کے مطابق جب تک جبہ ڈیم تعمیر نہ ہو، ان سیلابوں کی تباہ کاریوں سے چھٹکارہ حاصل کرنا ناممکن ہے۔ یہ صوبائی اسمبلی صوبائی حکومت کی وساطت سے گورنر صوبہ سرحد کے ذریعے وفاقی حکومت سے مطالبہ کرتی ہے کہ جبہ ڈیم کی تعمیر کیلئے رقم مختص کر کے اس پر جلد سے جلد کام شروع کیا جائے اور تعمیری ڈیزائن اور پلاننگ کے مراحل میں صوبائی حکومت اور متعلقہ ممبران صوبائی اسمبلی کو اعتماد میں لیا جائے تاکہ ضلع پشاور کے لوگ سیلاب کی تباہ کاریوں سے بچ سکے۔ اس سے تین ہزار ایکڑ سے زائد زمین فاٹا میں سیراب ہو گی جس سے قبائلی علاقاجات کے لوگوں کو روزگار میسر ہو گا اور پشاور میں پینے کے پانی کا بحران بھی ختم ہو جائے گا"۔ ډیره مهربانی، جناب سپیکر صاحب۔

Mr. Speaker: The motion before the House is that the resolution moved by the honourable Member may be adopted. Those who are in favour of it may say 'Aye' and those against it may say 'No'.

(The motion was carried)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it, the resolution is adopted unanimously.

(تالیاں)

ملک قاسم خان خٹک: جناب-----

جناب سپیکر: او دریږه، یو منټ جی۔ تاسو هم ریزولیوشن-----

ملک قاسم خان خٹک: جناب سپیکر-----

جناب سپیکر: نه او دریږه چه دا ریزولیوشن مخکښے شی۔ دا دلته د راوړے دے؟ آپ ایسا کریں پہلے مجھ تک تو ایک کاپی پہنچایا کریں نا۔ ملک قاسم خان صاحب! ہر چیز کا ایک طریقہ ہوتا ہے، ابھی، او دریږه جی۔ جناب واجد علی، اب چونکہ رول Relax ہو چکا ہے تو یہ دوسری ریزولیوشن-----

وزیر جنگلات: جناب سپیکر-----

جناب سپیکر: جناب واجد علی خان صاحب، دا پیش کوئ جی۔ ستاسو خو کال اټینشن دے، هغه خو به ډسکس کوؤ-----

وزیرِ جنگلات: جناب سپیکر۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: واجد علی خان صاحب! آپ تھوڑا بیٹھ جائیں جی۔ نه، بیا به Relax شی خو اوس کال اټینشن ایجنډا باندے دے جی۔ دا ګوره ما هم تاسو ته چانس در کولو خو کال اټینشن زما توجو کښے اوس هغوی راوستو، کال اټینشن به ډسکس کوؤ، بیا به هم تهٔ دا پیش کوے، ریزولیوشن به هم تاسو پیش کوئ۔۔۔۔

وزیرِ جنگلات: جناب سپیکر۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: نه، دا به وروستو بیا Relax کړو کنه، او به شی او ډیره ایجنډا آئټم ته چه راشو۔ ګوره زهٔ تاسو سره بلا Leniency نه کار اخلمه۔ تاسو لږ یو پوهے د رولز مطابق چلیږئ، لږ ما سره په دیکښے کوآپریشن کوئ، د حد نه زیات به زهٔ تاسو ته، ګوره څومره چانس در کوم، بیا هم تاسو په دے Satisfy نه یئ۔

## تحاریک التواء

Mr. Speaker: Item No. 6, 'Adjournment Motions'. Mr. Abdul Akbar Khan, MPA, to please move his adjournment motion No. 78. Mr. Abdul Akbar Khan.

جناب عبدالاکبر خان: شکریہ، جناب سپیکر۔ اسمبلی کی کارروائی روک کر اس اہم مسئلے پر بحث کی اجازت دی جائے جو کہ 'خان عبدالولی خان یونیورسٹی' میں غیر قانونی بھرتیوں سے پیدا ہوئی ہے۔ اس کیلئے نہ اخبار میں مشتہری کی گئی ہے اور نہ کوئی ٹیسٹ ہوا ہے، کارروائی روک کر اس پر بحث کی جائے۔

جناب سپیکر، د آرټیکل 128 لاندے چه یو آرډیننس جاری شی نو د هغے میعاد درے میاشتے وی او هغه درے میاشتو کښے Consider کیږی یو قسم له Act of the Assembly، خو پرابلم دا اوشی چه هغه درے میاشتے کښ دننه دننه د اسمبلئ نه پاس نه شی نو بیا حکومت ته Re-promulgation د پاره هغه آرډیننس پریوزی او په دے دوران کښے هلته لا په هغے باندے کارروائی سټارټ وی، دلته کښے اسمبلئ ته هغه پیش شوے نه وی۔ اوس جی تاسو اوګورئ، پرون په ایجنډا باندے دا آرډیننس راغلے دےاو پرون دلته کښے دے اسمبلئ ته پیش شوے دے خو هغلته په یو نیورسټئ کښے په سوؤنو بهرتئ دغه شان شوے دی۔ جناب سپیکر، اوس که سبا دا اسمبلی په دغه آرډیننس کښے څه Amendments راوړی او دا اختیارات بل فورم ته ورکړی، هغے کښے څه بل

طریقه کار راا و باسی نو دا تهول چه څه په هغے کښے اپوائنټمنټس شوے دی، دا به Null and void شی ځکه چه د غلته کښے به بل څه راشی او هلته کښے به کارروائی په بل څه شوے وی۔ جناب سپیکر، I am sorry، زهٔ خبرے نه شم کولے، تکلیف دے خو که حکومت په دے باندے هم څه خبره کوی۔

جناب سپیکر: جی منسټر لاء، پلیز یا قاضی اسد صاحب۔ قاضی اسد صاحب هائر ایجوکیشن دے۔

قاضی محمد اسد خان (وزیر برائے اعلیٰ تعلیم): شکریہ، جناب سپیکر۔ میں نے عبدالاکبر خان کی بات پر کوشش کی ہے، مجھے سمجھ آئی ہے۔ یہ کہہ رہے ہیں کہ 'عبدالولی خان یونیورسٹی' میں اپوائنٹمنٹس ہو رہی ہیں، ان کے اشتہارات نہیں دیئے گئے۔ میں وائس چانسلر صاحب کو یہاں پر بلاونگا اور ان کے ساتھ بیٹھ کر اس مسئلے کو حل کریں گے۔ یہ تو بڑی سیریس بات ہے۔ ویسے میں ہاؤس کی تسلی کیلئے بتانا چاہتا ہوں کہ میرٹ کے مطابق لوگوں نے ٹیسٹ دیئے تھے، وہ Appear ہوئے تھے لیکچررشپ کیلئے جن لوگوں کو بلایا گیا تھا اور Naturally لوگ اسی لئے گئے تھے کہ انہوں نے کوئی اشتہار پڑھا تھا لیکن چونکہ لوکل ایم پی اے، آنریبل ایم پی اے مردان سے تعلق رکھتے ہیں اور ان کو اس ایشو پر Objection ہے تو میں وائس چانسلر صاحب سے بہت جلدی بات کر کے اور ان کو آپس میں بٹھا کر اس مسئلے کا حل نکالوں گا۔

جناب سپیکر: اعتراض نہیں ہے۔

جناب محمد زمین خان: جناب دوئ خو څه تسلی ورنکړه۔

جناب سپیکر: زمین خان! د هغه خو تسلی اوشوه او ستا سو؟

جناب محمد زمین خان: زمونږ تسلی خو اونشوه۔

جناب سپیکر: د Mover تسلی خو اوشوه۔

جناب محمد زمین خان: د هغه تسلی شوے ده خو زمونږ تسلی نه ده شوے۔ یوازے د هغه تسلی شوی ده خو مونږ به هم تسلی غواړو۔

جناب سپیکر: نه، هغه لا ایډمټ شوے نه دے۔ د ایوان نه چه ایډمټ شی هله زمونږه پراپرټی شی، د ایوان پراپرټی شوے دا لا نه ده۔

جناب محمد زمین خان: نه، ایوان نه ئے تاسو تپوس اوکړئ خیر دے، که دوئ ایډمټ کړه------

جناب سپیکر: نه، هلته Mover غلے شو، کښیناستو نو ستاسو ورسره څه کار دے؟

Ji, Mr. Iqbal Din Sahib, MPA, to please move his adjournment motion No. 80 in the House. Dr. Iqbal Din Fana Sahib.

ڈاکٹر اقبال دین: مہربانی، سپیکر صاحب۔ محترم سپیکر صاحب! از راہ کرم صوبائی اسمبلی کی معمول کی کارروائی روک کر اس اہم مسئلے پر بحث کی اجازت دی جائے کہ غیر ملکی ایجنسی 'بلیک واٹر' صوبائی دارالحکومت پشاور اور دیگر اضلاع میں ذی (Xe) کے نئے نام سے سرگرم عمل ہے۔ میڈیا اور پبلک میں اس کا چرچا ہے، عوام میں شدید بے چینی پائی جاتی ہے اور حکومت اس سلسلے میں مہر بہ لب ہے جس سے عوام کے خدشات اور بھی بڑھ رہے ہیں۔

محترم سپیکر صاحب، الیکټرانک میډیا او پریس کښے دا خبره ډیر تواتر سره راځی لګیا ده چه غیر ملکی سیکیورټی ایجنسی 'بلیک واټر' په اسلام آباد او پیښور کښے دفاتر قائم کړی دی، د پیښور په پوش علاقو کښے د دوئ دفترونه دی۔ دے نه علاوه دا زما مخے ته د مشرق اخبار اداریه پرته ده د 30 اګست 2009، په دیکښے هغوی دا لیکلی دی چه د پیښور د پوش علاقو د دفترو نه علاوه دوئ په تحصیل شبقدر، ضلع چارسده کښے هم زمکے خپلو دفترو د پاره اغستے دی۔ دے نه علاوه دے اخبار کښے ئے دا هم لیکلی دی چه د دے سیکیورټی ایجنسی چه کوم انچارج دے کریک ډیوس، هغه د پاکستان نه ملک بدر کړے شوے وو او د هغے باوجود هغه غیر قانونی طور باندے دلته دوباره موجود دے۔ د دے کمپنئ، د دے سیکیورټی ایجنسئ څه سرګرمئ دی، دا د کوم مقصد د پاره دی؟ آیا دا د حکومت په اجازت باندے دلته راغلی دی او حتماً که دلته موجود وی نو دا به د حکومت په اجازت باندے راغلے وی نو د دے په باره کښے زهٔ وایمه چه دے ایوان ته د معلومات ورکړلے شی او د دوئ سرګرمئ هم د واضح کړے شی چه د دوئ څه سرګرمئ دی؟ او بل دا ده که د دوئ سرګرمئ د سیکیورټی په باره کښے وی نو باید چه دا د شهرونو، دارلحکومتونو پورے چه چا د دوئ خدمات حاصل کړی وی، هغوی پورے محدود شی، د تحصیل حده پورے او تر کومه حد پورے چه د دوئ زمکے اغستل او د دوئ سرګرمئ دغے

حد پورے زیاتول دی، دے باندے د پابندی اولګولے شی او دے نه علاوه که د دوئ سرګرمئ دی، داد په نظر کښے اوساتلے شی۔

جناب سکندر حیات خان شیرپاؤ: سپیکر صاحب، دا چه کوم ایشو دے ، دا د د بحث د پاره منظور کړے شی۔

مفتی کفایت اللہ: جناب سپیکر۔

جناب سپیکر: جی مفتی کفایت الله صاحب، تاسو۔۔۔۔۔

مفتی کفایت اللہ: جناب سپیکر۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: اودریږه د ګورنمنټ نه Opinion واخلو، ټریژری بنچز نه، نو مفتی صاحب، که تاسو۔۔۔۔۔

مفتی کفایت اللہ: جناب سپیکر۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: هغوی نه Opinion واخلو نو بیا، که نه اوس خبرے کول غواړئ۔ مفتی کفایت اللہ صاحب کا مائیک آن کریں۔ان کے بعد گورنمنٹ سے Opinion لیں گے جی۔

مفتی کفایت اللہ: شکریه، جناب سپیکر۔ ډاکټر اقبال دین فنا صاحب چه کومه خبره کړے ده، زما په خیال هغه زمونږ د پوره صوبے آواز دے او په دیکښے د اپوزیشن او د حکومت تصور نشته، اجتماعی خبره ده او یو ډیره اهم خبره ده۔ زما خو ستاسو په وساطت دوئ ته دا درخواست دے چه دوئ د مونږه سره Agree شی چه دے باندے ډسکشن اوکړو۔ ښنګه چه زمونږه روایات دی چه مونږ یو متفقه آواز اوباسو، نو دا به هم روایت قائم شی نو ډیره غټه مهربانی به وی۔

جناب سپیکر: جی ٹریژری بنچز کی طرف سے۔۔۔۔۔

بیرسٹر ارشد عبداللہ (وزیر قانون): جناب سپیکر۔

جناب سپیکر: جی بسم اللہ، لاء منسٹر صاحب۔

وزیر قانون: زمونږه په دیکښے دا ګزارش دے چه ستاسو دے ایوان ته هم پته ده، ټول پاکستان ته پته ده چه فیډرل ګورنمنټ او بیا پرائم منسټر صاحب خصوصی پخپله د دے بارها وضاحت کړے دے چه 'بلیک واټر' نامی هیڅ قسمه ایجنسی په

پاکستان کښې Operational نه ده، نو چه د وزیر اعظم Official statements پراته دی، اخبارونو به دوئ وئیلی وی، نو زهٔ خو په دے نه پوهیږم چه یره Whether it is a figment of their imagination، دا یو خیالی پلاؤ دے که څه دی، دا څه شے دے؟ او تر څو پورے چه دا زمکه د شبقدر دوئ خبره اوکړه، دا د دوئ مونږ ته Identify کړی چه دغلته کوم سرکاری پراجیکټ روان دے، څه روان دی، دغه به مونږه اوګورو شبقدر کښې چه کومه زمکه یادوی دوئ؟ باقی Black Water does not exist, this is what the Prime Minister has said او دا د فیډرل ګورنمنټ Cognizance، د هغوی خبره ده او هغه پرائم منسټر صاحب دا سے وئیلے دی۔

<u>جناب اکرم خان درانی (قائد حزب اختلاف):</u> جناب سپیکر صاحب۔

<u>جناب سپیکر:</u> جی اکرم خان درانی صاحب۔

<u>قائد حزب اختلاف:</u> محترم سپیکر صاحب، ستاسو شکریه۔ چونکه ډاکټر اقبال فنا صاحب چه کومه مسئله اوچته کړے ده جی، هغه انتهائی اهم ده او هغے سره زمونږ د ملک سلامتیا او په ملک کښې زمونږ صوبه هم ده، د فیډرل ګورنمنټ یو حد پورے ذمه داری ده د دے خپل لاء اینډ آرډر یا د ملک د ساتلو، هم دا سے د پراونشل ګورنمنټ ذمه داری ده۔ په دے ټولو کښې چه دلته اوس که تاسو اوګورئ یعنی په اخبارونو کښې دا خبره راغلے ده، یقیناً فیډرل ګورنمنټ به ئے هر قسم باندے تردید هم کړے وی خو قومی اسمبلئ دے د پاره یوه سپیشل کمیټی هم جوړه کړے ده چه هغه د اوګوری چه کوم هاؤسز په اسلام آباد کښې، دوسو یادیږی، هلته لاړه شی نو زهٔ په دے باندے نه پوهیږمه چه د صوبائی ګورنمنټ په دے باندےولے اعتراض دے؟ چه آیا دومره اهم مسئله ده چه په هغے کښې زمونږ د ملک خبره ده، د دے صوبے د مستقبل خبره ده او په هغے کښې دوئ وائی چه یره په دے باندے د بحث نه وی۔ په ډیر معمولی معمولی خبرو باندے هم په دے ایوان کښې بحث کیږی او بیا په هغے یوه لاره رااوځی نو دا خو دومره اهم ده چه د دے ایون هر یو سړے دے ته تیار دے چه زهٔ خبره اوکړم۔ نو که دا تحریک التواء ایډمټ شی جی او مکمل بحث په دے اوشی او ګورنمټ ته به زهٔ دا ریکویسټ اوکړم چه په دیکښے د دوئ اختلاف نه لری۔ چونکه دلته هم په

اخبار اتو کښې د دوه ورځو خبرے راغلی دی چه څنګه کورونه په اسلام آباد کښې نيولے شوی دی، په ډير اهم ځائے کښې د پراونشل ګورنمنټ هم د دے د پاره کورونه په کرایه باندے حاصل شوی دی نو اوس که چرته فیډرل ګورنمنټ، وفاقی ګورنمنټ هغه يوه کميټی جوړولے شی نو بيا زمونږ پراونشل ګورنمنټ هم د دے د پاره يوه کميټی جوړولے شی چه بحث پرے اوشی او څنګه رائے جوړه شی چه هغه د دے تحقيقات اوکړی او دا په مونږ ټولو باندے ذمه داری ده نو زما به ګورنمنټ ته دا ګزارش وی چه په ديکښې د دوئ اختلاف نه کوی او په ديکښې د مونږ سره شريک شی او په ديکښے به مونږ ريکويسټ اوکړو اقبال فنا صاحب ته چه هغه د رول د Relaxation د پاره درخواست تاسو ته اوکړی او بحث د۔۔۔۔۔

<u>جناب عنایت اللہ خان جدون</u>: جناب سپیکر صاحب، ایک منٹ۔

<u>جناب سپیکر</u>: جی جدون صاحب، مختصر۔ اسی پر بولنا چاہتے ہیں؟ یہ ہاؤس کو اب میں Put کروں تو پھر میرے خیال میں اس کو ڈسکس۔۔۔۔۔

<u>جناب عنایت اللہ خان جدون</u>: سر، میں صرف یہ ایک ریکویسٹ کرنا چاہ رہا ہوں اپنی جماعت کی طرف سے کہ میرا ابھی موقف یہی ہے کہ یہ ایک انتہائی اہم مسئلہ ہے جس پہ ممبران بھی بات کرنا چاہ رہے ہیں اور عوام بھی چاہتے ہیں کہ اس کو کلیر کیا جائے کہ کیا ہو رہا ہے؟ اور عوام کے حقوق کے ہم یہاں پر رکھوالے ہیں اور ان کے آگے جوابدہ ہیں اور یہ جو تحریک التواء ہے، اس کو ایڈمٹ کیا جائے ڈسکشن کیلئے تاکہ اس پر ڈیٹیل سے ڈسکشن ہو اور اگر کوئی ابہام ہے تو یہ ختم ہو جائے گا۔ اس میں کوئی ایسی مسئلے والی بات نہیں ہے۔ یہ میری ریکویسٹ ہے، جناب۔

<u>وزیر قانون</u>: جناب سپیکر۔

<u>جناب سپیکر</u>: جی لاء منسٹر صاحب۔ آپ بشیر بلور صاحب، خود بولیں۔ جی، لاء منسٹر صاحب۔

<u>وزیر قانون</u>: يو خو دا ده جی چه دا ملګری زمونږه د اپوزيشن، درانی صاحب شو يا نور مشران شول، دوئ خو They are part of the Federal Government دی۔ اولنے خبره دا ده، پرائم منسټر صاحب څه وائی؟ انټيريئر منسټر صاحب څه وائی؟ يا خو که دوئ د خپل فيډرل ګورنمنټ خبره نه منی بيا خو پکار ده چه د ګورنمنټ نه د يو اړخ ته شی، هغلته د دوئ مشران ټول په فيډرل ګورنمنټ کښې

ناست دی۔ (تالیاں) د پرائم منسٹر په خبره اعتماد نشته، د انٹیریئر منسٹر په خبره اعتماد نشته، بیا هم دغلته ناست دی نو مونږ خو په دغه سیاست پوهه نه شو، اولنے خبره۔ دویمه خبره د صوبے د مفادو خبره دوئ اوکړه، بالکل به مونږ ورسره ولاړ یو، ډاکټر صاحب ته دا خواست دے چه دوئ د ایډجرنمنټ موشن راولی، مونږ به هم انفارمیشن واخلو، Background information، Proper به واخلو او بیا به پرے هاؤس نه رائے تاسو واخلئ نو دا زمونږ گزارش دے چه هغه شان راولی۔

<u>جناب سپیکر:</u> جی بشیر بلور صاحب، آپ اس کو چھپکے چھپکے بتا رہے تھے، کھل کر خود بولیں نا۔

<u>جناب بشیر احمد بلور (سینیئر وزیر):</u> ہمیں وہ کاپی نہیں ملی ایڈجرنمنٹ موشن کی۔

<u>جناب سپیکر:</u> جی بسم اللہ، بسم اللہ۔

<u>سینیئر وزیر (بلدیات):</u> اگر ہمیں ایڈجرنمنٹ موشن کی کاپی ملی ہوتی تو ہمیں کوئی اعتراض نہ ہوتا۔ یہ تو کہتے ہیں کہ ایڈجرنمنٹ موشن اگر آیا ہوا ہے تو آپ کے آفس میں آیا ہے مگر ہمیں کاپی نہیں ملی۔ چاہیئے تھا کہ ہمیں کاپی ملتی تاکہ ہم اس کا جواب دیتے۔ بہر حال اگر ہے تو ہمیں ڈسکشن پر کوئی اعتراض نہیں ہے۔ ہم خود Accept کرتے ہیں کہ ڈسکشن اس پر ہو، ہمیں کوئی اعتراض نہیں ہے۔

<u>جناب سپیکر:</u> نہیں یہ سب کچھ جان چکا ہے جی۔ میری سیکرٹریٹ سے یہ بات آرہی ہے کہ آپ کو، ایک ایک کو پہنچ چکی ہے، آپ لوگ سٹڈی نہیں کرتے، دیکھتے نہیں ہیں، کوئی کاغذ آپ لوگ نہیں دیکھتے۔

<u>سینیئر وزیر (بلدیات):</u> نہیں، میرے پاس نہیں ہے۔ ہمیں کوئی اعتراض نہیں ہے۔ ایڈجرنمنٹ موشن جو آپ Accept کریں، ہم اس پر بحث کرنے کیلئے تیار ہیں۔

<u>جناب سپیکر:</u> میں یہ ہاؤس کو Put کرتا ہوں۔ Is it the desire of the House that adjournment motion No. 80, moved by the honourable Member, may be admitted for detailed discussion under rule 73? Those who are in favour of it may rise in their seats please.

(The motion was carried)

<u>Mr. Speaker:</u> The 'Ayes' have it, the motion is admitted for discussion.

<u>ڈاکٹر اقبال دین:</u> جناب سپیکر صاحب، زهٔ ډیره شکریه ادا کوم د دے ایوان چه په-----

جناب سپیکر: جی اقبال فنا صاحب، شکریه ادا کوئ؟ جی اقبال فنا صاحب، وایئ کنه خبره اوکړئ جی۔ شکریه بس دوه الفاظ اووایئ چه مخکښے څو جی۔

ڈاکٹر اقبال دین: محترم سپیکر صاحب، زۀ خو اول د ټول ایوان شکریه ادا کوم چه هغوی په متفقه دا ایډجرنمنټ د بحث د پاره منظور کړو۔ محترم سپیکر صاحب، لکه څنګه چه زمونږ د خپل وطن په باره کښے دا اصولی۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: ډاکټر فنا صاحب، ډ سکشن به پرے بیا پوره تقریرونه کوؤ۔۔۔۔۔

ڈاکٹر اقبال دین: صحیح شوه، مهربانی۔

## توجہ دلاؤ نوٹس ہا

Mr. Speaker: Next. Item No. 7, 'Call Attention Notices'. Mr. Sikandar Hayat Khan Sherpao, MPA, to please move his call attention notice No. 201. Mr. Sikandar Hayat Khan Sherpao Sahib.

جناب سکندر حیات خان شیرپاؤ: ډیره مهربانی، جناب سپیکر۔ جناب سپیکر، میں آپ کی توجہ ایک اہم اور فوری نوعیت کے مسئلے کی طرف مبذول کرانا چاہتا ہوں اور وہ یہ کہ صوبائی حکومت نے اعلان کیا تھا جس کے مطابق مالاکنڈ ڈویژن کو دوران آپریشن یوٹیلٹی بلز جن میں بجلی، ٹیلیفون، سوئی گیس وغیرہ شامل ہیں، کی ادائیگی معاف کر دی گئی تھی۔ صوبائی حکومت کے اعلان کے باوجود وہاں کے لوگوں کو یوٹیلٹی بلز بھیج دیئے گئے جس کی وجہ سے متاثرین مالاکنڈ ڈویژن میں غم وغصہ کی لہر دوڑ گئی ہے۔

جناب سپیکر، ما ته پته ده چه کال آټنشن دے، زۀ یو منټ کښے صرف دا Explain کومه۔ واجد علی خان هم په دے باندے قرارداد راوستل غوښتل۔ دا د هغه ځائے یوه اهم مسئله ده۔ جناب سپیکر، مونږه یو طرف ته د ملاکنډ دویژن خلقو ته او د هغے متاثرینو ته دا وایو چه یره دوئ د پاکستان د پاره قربانی ورکړے ده او د لکهونو په تعداد کښے خپل کورونه او خپل کاروبار او هر څه یے پریښودی دی او دلته کښے راغلی دی او بیا بل طرف ته چه هغوی ته کوم ضرورت دے او څه چه پکار ده چه د هغوی سره امداد اوکړے شی، په هغے کښے بعض داسے اعلانات شوی وو، بعض داسے خبرے شوے وے چه په هغے باندے اوس عمل نه کیږی او د هغے د وجے نه په هغه خلقو کښے Frustration او غصه جوړیږی لګیا ده۔ جناب سپیکر، که تاسو نظر واچوئ د ملاکنډ ایجنسئ

نه واخله ټول، د ملاکنډ ډویژن هره یوه ضلع چه ده، هغه د دے آپریشن نه متاثره شوے ده په څه نه څه شکل کښے، که هغه د کاروبار په لحاظ سره ورته اوګورئ، که هغے ته د معیشت په لحاظ سره اوګورئ، که هغه نور، د هر چا لائف Affect شوے دے او په دے صورت کښے چه هغه درے میاشتے چه که مئ اوګورو، جون اوګورو، جولائی چه په کوم کښے آپریشن روان وو او دا خلق بهر وتلی وو، که د هغه دوران بلونه ورته اولیږلے شی نو زما خیال دے چه دا زیاتے دے۔ په دیکښے صوبائی حکومت د مرکز سره دا خبره اوچته کړے هم وه خو کیدے شی چه د هلته نه هغه شان مثبت جواب نه دے ملاؤ شوے نو زما به دا خواست وی حکومت ته هم چه په دے باندے کښینو او یو قرارداد اولیکو او مرکز ته ئے اولیږو نو زما خیال دے چه د ټولے اسمبلئ د طرف نه چه آواز لاړ شی نو په هغے باندے به یو ښه موثر انداز سره دا کیس د هغوی مخامخ پیش کړے شی۔

جناب سپیکر: ٹھیک شوه جی، ٹھیک شوه۔ دا یو بل کال اٹینشن دے د شاه حسین صاحب نو چه دا هم اوشی نو د هغے نه پس به قرارداد پیش کوؤ جی۔ Mr. Shah Hussian Khan, to please move his call attention notice No. 202.

جناب شاہ حسین خان۔ بسم اللہ الرحمان الرحیم۔ میں آپکی توجہ ایک اہم اور مفاد عامہ کے مسئلے کی طرف دلانا چاہتا ہوں اور وہ یہ کہ اے۔ڈی۔او، زراعت بٹگرام نے مورخہ 14 ستمبر اور 17 ستمبر 2009 کو پیسے لیکر چند آسامیوں پر غیر مستحق اور نااہل لوگوں کو بھرتی کیا ہے جس سے دوسرے امیدواروں کی حق تلفی ہوئی ہے اور حکومت کی بدنامی کا سبب بھی بنا ہے۔

خبره دا ده سپیکر صاحب، چه ایګریکلچرل اے۔ډی۔او سرګند وائی چه ما پیسے اغستے دی ولے چه زما یو کال پاتے دے نو زما دا کال چه دے، دا به زهٔ په دے طریقے سره ختمومه چه زهٔ به پیسے اخلم او ځم به او چهټی به کوم او دلته کښے منسټر صاحب خو دومره شریف سړے دے نو د دهٔ بدنامی ده، د حکومت بدنامی ده۔ د دهٔ خلاف، د اے۔ډی۔او خلاف د کارروائی اوشی او کوم آرډرز چه هغه کړی دی، هغه د کینسل شی چه په هغے باندے هم هغه شان امیدواران راشی۔

جناب سپیکر: جی منسٹر ایگر کلچر پلیز، جواب دے دیں۔

ارباب ایوب جان (وزیر زراعت): جناب سپیکر صاحب، د شاه حسین صاحب چه کوم توجه دلاؤ نوټس دے ، دا ډیر اهم دے ځکه چه دے د خپلے حلقے نمائندګی کوی، د وئ ته بنه پته لګی چه اپوائنټمنټس ټهیک شوی دی یا غلط شوی دی۔ زهٔ بهرپور حمایت کوم ځکه چه دے زمونږه ورور دے او مونږه ټول که ځوک وزیر وی یا وزیر اعلیٰ وی خو وی هغه Basically ایم پی اے (تالیاں) نو که زهٔ، دا واقعات به خامخا شوی وی، د دے خلاف به زهٔ انکوائری کومه او Concerned mover شاه حسین خان چه دا کوئسچن ئے Move کړے دے ، دے به د هغه کمیټئ ممبر وی۔ چه کومه کمیټی به زهٔ جوړومه نو په هغے کښے به شاه حسین صاحب د هغے کمیټئ ممبر وی۔ (تالیاں)

جناب سپیکر: شکریہ جی۔ ابھی ہم دوبارہ رول Relax کریں گے تو ہاؤس کو Put کریں گے، Is it the desire-----

جناب اکرم خان درانی (قائد حزب اختلاف): په دیکښے زما هم کال اټنشن وو۔

جناب سپیکر: په دیکښے ستاسو نوم نشته دے۔ څه جی؟

قائد حزب اختلاف: جناب-----

جناب سپیکر: قرارداد چه Move کړو نو د هغے نه پس پرے تاسو اووایئ------

قائد حزب اختلاف: جناب سپیکر-----

(شور)

جناب سپیکر: چه دا Move شی نو تاسو به په هغے خبرے اوکړئ-----

(شور)

قائد حزب اختلاف: جی-----

(شور)

جناب سپیکر: Unanimous یے جوړ کړئ کنه۔

(شور)

قائد حزب اختلاف: نو په دے انداز ما خبره کوله-----

جناب سپیکر: دا بہ Revise کوی۔ زما خیال دے تاسو ټول پرے دستخط اوکړئ او شے خو بہ هم دا وی کنہ جی۔ تاسو دستخطونہ اوکړئ جی او پہ دیکښے دیر هم پاتے شوے دے۔ دیر والا هم ریکویسټ رالیږلے دے ، دا هم پکښے شامل کړئ، دا لکہ Redraft کړئ۔ زما پہ خیال۔۔۔۔۔

(شور)

جناب سپیکر: بشیر بلور صاحب، تاسو څہ وایئ جی ؟ بشیر بلور صاحب کا مائیک آن کریں۔

جناب بشیر احمد بلور (سینئیر وزیر): زما دا خواست دے د اپوزیشن ورونړو تہ چہ دا کال اټنشن خو د هغوی د طرف نہ راغلے وو، د شیرپاؤ خان د طرف نہ او دا قرارداد د ملاکنډ چہ کوم Affected MPAs دی، د هغوی د طرف نہ، دا د ټول ملاکنډ ایم پی ایز چہ کوم Affected دی، د هغوی د طرف نہ بہ قرارداد راشی نو دوئ بہ ئے Unanimously پاس کړی نو د ټولو پارټو حصہ بہ پکښے جوړہ شی کنہ۔ نو د دے څہ ضرورت دے چہ دستخط اوکړو، هغہ بہ اوشی او کہ دستخط اوشو، چہ Unanimous اوشی نو پخپلہ ټول Involve بہ شی۔ ټولو پارټو تہ بہ۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: Unanimous بہ شی خو دا ډرافټ، پہ دے ډرافټ باندے دا هم یو Requirement دے ، دستخطونہ بہ پرے ټول کوئ، بیا وروستو پرے اوکړئ خو ټول ملاکنډ ډویژن پکښے اوکړئ۔ واجد علی خان، تاسو بہ On behalf of the whole House پیش کوئ۔ رول اول Suspend کوؤ بیا دوبارہ جی۔ Is it the desire of the House، تاسو خو ریکویسټ اوکړئ کنہ۔

## قاعدہ کا معطل کیا جانا

جناب واجد علی خان (وزیر جنگلات): زۂ ریکویسټ کومہ جی کنہ، زۂ جی ستاسو هاؤس تہ ستاسو Behalf باندے ریکویسټ کومہ چہ تاسو رول 240 د لاندے رول 124 Relax کړئ چہ زۂ ریزولیوشن پیش کړمہ جی۔

Mr. Speaker: Is it the desire of the House that rule 124 may be relaxed under the rule 240 to allow the honourable Members to move their Resolution? Those who are in favour of it may say 'Yes' and those against it may say 'No'

(The motion was carried)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it. The honourable Minister for Forest, to please move the Resolution on behalf of the whole House. Honourable Minister, wajid Ali Khan.

## قرارداد

وزیر جنگلات: جناب سپیکر، ہم متفقہ طور پر صوبائی اسمبلی کی وساطت سے وفاقی حکومت سے یہ مطالبہ کرتے ہیں کہ حالیہ دہشتگردی کے خلاف جنگ میں ملاکنڈ ڈویژن بالخصوص سوات اور بونیر میں عوام الناس کی بے انتہا جانی اور مالی قربانیوں کو مدنظر رکھتے ہوئے سوات اور بونیر کی بجلی اور ٹیلیفون کے بلز کو۔۔۔

(شور)

جناب فضل اللہ: په دیکښے شانګله هم شامل ده۔

جناب ظاہر شاہ خان: په ملاکنډ ډویژن کښے شانګه هم ده، هلته هم آپریشن شوے دے۔

(شور)

وزیر جنگلات: زهٔ راځمه کنه، دغه کومه کنه۔

جناب سپیکر: آپ بیٹھ جائیں، تمام ملاکنڈ ڈویژن، only۔۔۔۔۔

وزیر جنگلات و ماحولیات: زهٔ خبره کومه جی، Amendment به پکښے راولو، مونږه خو دغه جمع کړے دے کنه خو Amendment به پکښے راولو چه مونږ ته دغه شی کنه۔ که تاسو وایئ چه په دیکښے ئے ډرافټ کړو؟

جناب سپیکر: بشیر بلور صاحب چه څنګه اووئیل کنه، د ټول ملاکنډ ډویژن د پاره Unanimous ئے پیش کړئ۔

وزیر جنگلات و ماحولیات: زهٔ جی ریکویسټ کومه کنه۔ زهٔ به دا پیش کړم او چه کوم Amendment دوئ راوړی، سره د هغے به ئے مشترکه طور باندے پاس کړو کنه۔ Already خو دا جمع دے۔

(شور / قطع کلامیاں)

جناب محمد زمین خان: جناب سپیکر صاحب، دا کوم ایډجرمنټ چه پیش شو، په دیکښے دیر نه دے شامل۔

(شور)

جناب سپیکر: تاسو کښېنئ۔ عنایت الله صاحب، تاسو هم دا وایئ، دیر پکښے شاملول غواړئ؟

وزیر جنگلات: زۀ جی ریکویسټ کومه کنه جی۔

(شور)

جناب سپیکر: دیر، شانګله۔۔۔۔

(شور)

جناب سپیکر: جی دوئ ته موقع ورکړئ ځکه چه دا Mover دے۔۔۔۔۔

(شور)

جناب محمد زمین خان: جناب سپیکر، زۀ یو ګزارش کومه جی۔ دا چه په کوم Wording کښے پیش کړو، په دے ما دا ایډ جرنمنټ موشن ځکه جمع کړے دے چه دا کوم Wording پیش کیږی نو هغه چه کومے علاقے پکښے نه دی شامل، لکه خصوصاً زما د دیر میدان یا په آدیزئ کښے چه کوم خلق دی، ولے هغه خلق د احساس محرومئ ښکار دے۔

وزیر جنگلات: زۀ جی ریکویسټ کومه تاسو ته چه د دوئ دا ټول دغه واورو نو بیا به خبره اوکړو۔

(قطع کلامیاں)

جناب سپیکر: تاسو کښېنئ، آپ بیٹھ جائیں سارے۔ واجد علی خان! آپ پیش کریں۔ آپ اس میں Amendment پیش کریں یا اس میں پھر Including۔۔۔۔۔

وزیر جنگلات: زۀ جی ریکویسټ دا کوم چه دا اوس ئے جمع کړے دے، دا به مونږه پیش کړو، دوئ به Amendment راوړی، مونږه به سره د Amendment ټول پاس کړو جی کنه۔

جناب سپیکر: خو تهٔ د ټولو د پاره اووایه کنه۔

وزیر جنگلات: زۀ د ټولو د پاره وایمه جی۔ ځه بس ټهیک شوه۔

جناب سپیکر: هسے خبره اوږدوئ۔

وزیرجنگلات: زهٔ د Amendment سره الفاظ بدلومه، تاسو دا زما سره پاس کړئ۔

جناب سپیکر: دا Ambiguity پیدا شوه، ریزولیوشن کلیئر نه دے را رون۔

وزیرجنگلات: کلیئر دے جی خو که دوئ لږ وا وریدو نو بیا به ډیره ښه وی۔

جناب سپیکر: بیا دوباره اوس شروع شئ، بسم اللہ جی۔

وزیرجنگلات: ښه جی۔ ہم متفقہ طور پر صوبائی اسمبلی کی وساطت سے وفاقی حکومت سے یہ مطالبہ کرتے ہیں کہ حالیہ دہشتگردی کے خلاف ملاکنڈ ڈویژن، دا جی ملاکنډ ډویژن دے چه په هغے کښے سوات، بونیر، دیر او ټول په دیکښے شامل دی۔۔۔۔

(قطع کلامیاں/شور)

جناب سپیکر: ټهیک شوه جی۔ ټهیک شوه، اوشو، اوشو۔

(قطع کلامیاں/شور)

وزیرجنگلات: زهٔ جی دا الفاظ۔۔۔۔

جناب سپیکر: اووایه کنه۔

وزیرجنگلات: دا الفاظ به زهٔ ملاکنډ ډویژن ته راولم۔

(شور)

وزیرجنگلات: ملاکنډ ډویژن بشمول دیر، سوات، چترال، ملاکنډ ایجنسی، بونیر، شانگله۔

جناب سپیکر: پہلے کنجوسی سے۔

وزیرجنگلات: اپردیر۔

(تالیاں)

جناب سپیکر: واجد علی خان پہلے کنجوسی سے کام لے رہے تھے، ابھی کھل کے بتادیا۔ جی بسم اللہ، بسم اللہ، پڑھیں۔

وزیرجنگلات: عوام الناس کی انتہائی جانی اور مالی قربانیوں کو مدنظر رکھتے ہوئے سارے ملاکنڈ ڈویژن میں ٹیلیفون بلز، بجلی بلز اور سوئی گیس کی یوٹیلٹی بلز کو معاف کیا جائے۔ دہشتگردی کے خلاف جنگ کی وجہ سے ان علاقوں کے صارفین کے اقتصادی حالات صوبائی اور وفاقی حکومتوں پر عیاں ہیں، اس کے باوجود

صارفین کو بل بھیجنا سراسر ناانصافی ہے اوران مظلوموں کے زخموں پر نمک چھڑکنے کے مترادف ہے۔
دے ټول هاؤس ته درخواست کوم چه زمونږ سره په دیکښے حکومت هم تعاون اوکړی او پاس ئے کړی۔

Mr. Speaker: The resolution presented by the honourable Minister before the House may be adopted? Those who are in favour of it may say 'Yes'……

جناب اسرار اللہ خان گنڈاپور: سر، میری بھی ایک ریزولیوشن ہے۔

جناب سپیکر: تو میرے پاس آئی ہے آپکی کاپی، کدھر ہے؟ اسرار اللہ خان گنڈاپور صاحب! ایک گزارش میں کروں، پہلے بھی میں نے ادھر آپ کیلئے Facility رکھی تھی کہ آپ رف چٹوں پہ ریزولیوشن نہ بھیجا کریں۔ یہ اگر آپ کہیں بھی بھیجتے ہیں تو اس سے بڑی بے حرمتی ہوتی ہے اسمبلی کی۔ آپ کیلئے، سارے ممبرز کیلئے Facilitation Room رکھا ہے، کمپیوٹرز رکھے ہیں، بہت بڑی چیزیں ہیں، آپ اس میں بیٹھ کر بڑے صاف، Neat & clean طریقے سے اپنی ریزولیوشنز پیش کر سکتے ہیں، تو میرے خیال میں آپ اس کو کل کیلئے کر لیں۔

جناب اسرار اللہ خان گنڈاپور: سر، آپ کر دیں۔

جناب سپیکر: پچاس مرتبہ کروں گا۔

جناب محمد ظاہر شاہ خان: بسم الله الرحمان لرحیم۔ شکریه، جناب سپیکر صاحب۔ سپیکر صاحب، څنګه چه تاسو ته معلومه ده او دے ټول هاؤس ته معلومه ده، دا حالیه آپریشن چه په ملاکنډ ډویژن کښے کوم شوے دے او د ملاکنډ ډویژن ټولے اضلاع چه پکښے سوات، بونیر، شانګله، دیر، ملاکنډ ایجنسی، ټولے اضلاع شامل دی، په ټول ملاکنډ کښے آپریشن شوے دے او خلقو خپل کورونه، خپل کلی، خپل وطن، خپل جنت پریښودو باندے مجبور شوی او راغلی دی۔ په مردان کښے، په صوابئ کښے، په ایبټ آباد کښے، په مانسهره کښے، په بټګرام کښے، په پیښور کښے پناه ګزین شوی دی، د آپریشن په وجه مجبور شوی دی۔ په دغه کښے شانګله هم شامله ده جی او د شانګلے نه هم په ډیر کثیر تعداد سره خلق راوتی دی او په دغه پناه ګزین کیمپونو کښے په پناه اغستو باندے مجبوره شوی دی خو زمونږه دا بدقسمتی ده چه زمونږه په شانګله کښے د سوات په نسبت لیټ آپریشن شروع شو او چه کله آپریشن شروع شو نو لارے بندے شوے۔

شاته کرفیو وہ ټوله، هلته یو روډ دے ، د شانګلے نه Connect یوروډ دے ، په هغے باندے کرفیو وہ نو خلق ئے نه پریښودل او په مخه کښے خو جنګ کیدو۔ په دغه جنګ کښے د شانګلے ډیر خلق مړه دی جی، ډیر کورونه وران شوی دی، ډیر خلق پکښے تباه شوی دی او چه کله خلق رااووتل نو دلته کښے حکومت په رجسټریشن باندے پابندی اولګوله۔ د دے سره سره زمونږه ډی سی او شانګله نه دوئ رپورټ اوغوښتو نو هغه خپل سفارش رااولیږلو چه ټوله شانګه د متاثره علاقه ډیکلیئر شی خو چه کله دلته کښے راغے ، دلته په دے سیکرټریټ کښے پکښے څه دغه اوشو، خوشخطی پکښے دا اوشوه او ډیر یونین کونسلز ئے پکښے کټ کړل جی حالانکه دغه یونین کونسلز کښے اوس هم فوج دیره دے ، اوس هم پکښے کرفیو لګی، اوس هم خلق بهر دی، خپلو علاقوته نه دی تلے جی، نویو خو دا ستاسو په وساطت سره سوال کوم جی چه کم از کم د دے ډی سی او یا د د حکومت په دغه سفارش باندے عملدرآمد اوشی او ټوله شانګله د ډیکلیئر شی متاثره علاقه۔ بل زمونږه د خلقو رجسټریشن نه دے شوے ، فوری طور باندے د زمونږه رجسټریشن اوشی او په دے باره کښے-----

<u>جناب سپیکر:</u> رجسٹریشن۔

<u>جناب محمد ظاہر شاہ خان:</u> رجسټریشن د اوشی او په دے باره کښے ستاسو په خدمت کښے زۀ عرض کوم، مونږه د ایډ منسټریشن سره ملاؤ شو، د مختلف افراد سره، د هوم سیکرټری سره، د دغه ټولو افسرانو سره مونږه ملاؤ شو او دا خپله مسئله ورته مونږه بیان کړه۔ منسټرے صاحبے خپل وس اوکړو خو د هغے هغه خبره پکښے اونه چلیده۔ بیا عجیبه خبره پکښے دا وه جی، دلته به خلق مونږ له راتلل او مونږ ته به ئے وئیل چه مونږ له زمونږه رجسټریشن اوکړئ، دلته خلق په پیښور کښے دیره وو او دلته زمونږه رجسټریشن نه دے شوے ، نو مونږه به ورته وئیل چه رجسټریشن خو بند دے نو بیا به ئے مونږ ته وئیل چه تاسو مونږ له اجازت راکړئ نو مونږه به ئے ځانله پخپله کوؤ۔ وئیل به ئے چه مونږه خپل کار په دو نمبر لاره باندے کوؤ۔ مونږه به وئیل چه نه د دے مونږه تاسو له اجازت نه شو درکولے ځکه چه دا به ستاسو نه پیسے هسے خرابے شی، نو بیا به خلق راغلل جی۔ تاسو یقین اوکړئ چه مختلف پوائنټونه وو نو په هغے کښے به ئے خپل

رجسټریشن اوکړو او راغے به او مونږ ته به ئے اوښودلو جی۔ ځکه چه بیا به ئے مونږ ته اوښودل، مونږه به نه د شرم نه هغه خلقو ته جواب ورکولے شو او نه به مونږه وئیلے شو چه تاسو پیسے ورکړئ او رجسټریشن اوکړئ ټول۔ نو مونږه ستاسو په وساطت حکومت ته دا خواست کوؤ چه زمونږه شانګله ټوله Affected area declare کړی۔ په خلقو کښے احساس محرومی ده جی۔ ټول یونین کونسلز د Affected declare کړی ځکه چه بعض یونین کونسلز ئے پکښے پریښودی دی نو دا په خلقو کښے احساس محرومی ده چه دا زمونږه سره ولے حکومت زیاتے کوی؟ ځکه دلته کښے په دے علاقه کښے د کال دوو نه دا چلیږی جی، کله په محکمه تعلیم کښې ټرانسفرے کیږی، کله زمونږه په نورو محکمو کښے داسے کیږی۔ نن د کلاس فور اپوائنټمنټ هم زمونږه د مرضئ نه خلاف کیږی۔ چه په میرټ باندے راشی نو هغه کټ کیږی او نور اغستے کیږی۔ نو خلق دا محسوس کوی چه دا زمونږ سره زیاتے دے او زمونږه دا رجسټریشن نه کیږی نو کم از کم مونږه خو د دے اسمبلئ، د دے ایوان ارکان یو او په دے حکومت چه کله د سختئ وخت راغلے دے او حکومت ته زمونږه ضرورت پیښ شوے دے جی، مونږه د دے حکومت سره هر وخت تعاون کړے دے، که هغه د وزیر اعلیٰ الیکشن دے، که هغه ستاسو الیکشن دے، که هغه د ډپټی سپیکر الیکشن دے یا نورے د قومی اهمیت د مفاد کومے خبرے دی، په هغے کښے مونږه د دے حکومت همیشه سپورټ کړے دے نو آخر مونږه ولے دومره نظر انداز کوی او د دیوال سره مونږه لګوی؟ او کم از کم زمونږ په وجه زمونږ د خلقو سره بے انصافی، زما سره هلته کښے مقابله پیپلز پارټئ کړے ده، زما سره مقابله نیشنل پارټئ کړے ده، د دے مطلب دا دے چه هلته کښے پیپلز پارټی هم شته دے او نیشنل پارټی هم شته دے او نورے پارټیانے هم شته دے نو صرف زمونږ په وجه دے علاقے له سزا ورکوی، نو زما علاقے له ولے دا سزا ورکړے کیږی جی؟ زهٔ تاسو ته دا سوال کوم، دا درخواست کوم او دے حکومت ته دا وایم چه زمونږه دا باقی یونین کونسلے ډیکلیئر کړی او زمونږه رجسټریشن د فوری طور باندے اوکړی۔ ډیره مهربانی، ډیره شکریه جی۔

جناب سپیکر: شکریه، شکریه جی۔

جناب سردار حسین (وزیر برائے ابتدائی وثانوی تعلیم): جناب سپیکر۔

(تالیاں)

جناب سکندر حیات خان شیر پاؤ: جناب سپیکر۔

جناب سپیکر: جی بسم اللہ۔ بابک صاحب، تاسو بہ وروستو جواب ورکړئ۔ جناب سکندر خان شیر پاؤ صاحب۔

جناب سکندر حیات خان شیر پاؤ: بسم اللہ الرحمان لرحیم۔ جناب سپیکر، زۀ ستاسو مشکور یمہ چہ تاسو موقع راکړہ پہ دے اھم موضوع باندے د خبرو کولو۔ واقعی ظاھر شاہ خان چہ کومہ خبرہ اوچتہ کړے دہ، دا یوہ ډیرہ اھمہ مسئلہ دہ ځکہ چہ دا کوم حالات پہ تیر کال کښے چہ تیر شو او خصوصاً د ملاکنډ ډویژن پہ خلقو باندے، زۀ بہ د ټول ډویژن خبرہ اوکړمہ، دا کوم صورتحال چہ ھلتہ کښے جوړ شوے وو نو زما خیال دے چہ د دے نہ مخکښے چرتہ پہ تاریخ کښے داسے صورتحال نہ وو جوړ شوے او دے خلقو چہ کومہ قربانی ورکړہ او پہ کومہ طریقہ باندے د ھغہ ځائے نہ ئے ھجرت اوکړو او د ھغہ ځائے نہ رااووتل نو د دے ھم پہ تاریخ کښے چرتہ مخکښے مثال نہ ملاویږی۔ جناب سپیکر، دوئ د شانګلے ذکر کوی، چونکہ پہ شانګلے کښے وروستو آپریشن شروع شو، د ھغہ ځائے خلق د ھغہ ځائے نہ پہ ټائم باندے راوتے نہ شو، ھغوی تہ موقع نہ وہ ملاؤ شوے، زما خو پہ دیکښے دا نکتہ نظر دے چہ د ټول ملاکنډ ډویژن خلق د دے متاثرینو پہ لسټ کښے ځکہ راځی چہ ټھیک دہ بعضو تہ بہ دا موقع ملاؤ شوی وی چہ ھغوی بہ بھر وتلی وی او راغلی بہ وی، دلتہ پہ کیمپونو کښے یا د نور چا سرہ بہ ایسار شوی وی خو بعضو خلقو تہ دا موقع نہ وہ ملاؤ شوے یا دا حالات ھغوی تہ جوړ شوی وو چہ ھغوی د ھلتہ نہ راوتے وے او کہ زۀ نظر واچومہ نو د دے ملاکنډ ډویژن ھر یوہ ضلع، ھر یو کس، ھر یو فرد چہ دے، ھغہ د دے نہ متاثر ضرور دے۔ کہ ھغہ د کرفیو لحاظ سرہ تاسو اوګورئ، د ھغے خپل اثرات وو۔ بیا د دے آپریشن ھلتہ کښے پہ دے خلقو باندے، د ھغہ ځائے پہ زنانو باندے، پہ ماشومانو باندے، د ھغہ ځائے پہ خلقو باندے خپل یو نفسیاتی اثر شوے دے او بیا دغہ شان چہ نور دا مشکلات مونږہ اوګورو، د ھغہ ځائے کاروبار مونږہ اوګورو، کہ زمیندار دے، د ھغہ زمینداری خرابہ شوے دہ،

باغونه تباه شوی دی، فصلونه تباه شوی دی، که د تجارت خبره کوؤ، د دکاندار خبره کوو، د هغوی بزنس Suffer شوے دے۔ دغه شان که نور هم څه لږ ډیر د تورازم د دغه ډویژن چه یو لوے د هغے نه آمدن به کیدو، هغه هم Affect شوے دے نو چه په هغه لحاظ سره چه مونږه اوګورو نو هر یو کس Affect شوے دے او زما دا بحث به چه وی، په دیکښے دا تفریق نه دی کول پکار چه یره دا کوم کس چه وتلے دے نو د دهٔ رجسټریشن پکار دے او دا کوم کس چه نه وو وتلے، د دهٔ رجسټریشن نه دے پکار۔ په دے باندے پکار ده چه بیا غور اوکړے شی او د دغه ډویژن ټول خلق د رجسټر کړے شی او د هغوی سره چه څومره هم امداد اوکړے شی نو زما خیال دے چه دا به کم وی او د دے د پاره مونږ له کوشش کول پکار دی، په دیکښے مونږ له په سیاست کښے نه دی پریوتل پکار جناب سپیکر، ځکه چه دا د سیاست نه بالا تر که مونږه سوچ اوکړو او په دے باندے غور اوکړو نو د هغے به ټولے علاقے ته فائده رسی۔ که په دیکښے مونږه په دے شی کښے پریوځو چه نه، د یو مخصوص په ذریعه باندے به رجسټریشن کیږی، د هغے په ذریعه به هلته کښے خلق رجسټر کیږی، نو د دے سره به دغه خلقو ته فائده نه رسی، د هغوی به نقصان کیږی۔ جناب سپیکر، زما به دا خواست وی چه ظاهر شاه خان چه کومه خبره کړے ده، د شانګلے د خلقو هم رجسټریشن پکار دے او د ټول ملاکنډ ډویژن، په هغے کښے هره یوه ضلع چه ده، د هغے د هر یو کس رجسټریشن ضروری پکار دے، جناب سپیکر۔

<u>جناب سپیکر:</u> جی قلندر خان لودھی صاحب۔

<u>حاجی قلندر خان لودھی:</u> شکریہ، جناب سپیکر۔ جناب سپیکر، یہ ظاہر شاہ صاحب نے جو بات کی ہے، سکندر شیر پاؤ صاحب نے جو بات کی ہے، اسکی سپورٹ میں بات کروں گا اور ایک مثال دیتا ہوں جی، ہمیشہ جو زخمی انگلی ہوتی ہے، اس پر چھوٹ آتی ہے جی، ظاہر شاہ صاحب کے ساتھ کچھ ایسا معاملہ شروع ہو گیا ہے ایجوکیشن کی طرف سے ہو، کلاس فور کی طرف سے ہو تو وہ بھی اسکی زد میں آتے ہیں اور کتنے زیادہ، آپکی وساطت سے گورنمنٹ کی توجہ چاہ رہے ہیں اور بڑی دکھیا رہے ہیں جی۔ یہ کوئی گپ کی بات نہیں ہے، ان کو دکھ ہے اپنے ایریا کے لوگوں کیلئے اور اس کا ازالہ، جو ملاکنڈ ڈویژن کی بات ہے، اس میں تو جب تک آپ 1992 کی بات کو نہیں دہرائیں گے، 1992 میں فلڈ آیا تھا تو اس میں ایسا ہوا تھا کہ ہزارہ ڈویژن کے ہر گھر

کو اس میں شامل کر دیا گیا، پانچ ہزار روپے ملے لیکن سب اس پر مطمئن ہو گئے۔ اب جب تک آپ اس میں سب ملاکنڈ ڈویژن، شانگلہ سمیت، سب کو شامل نہیں کریں گے، اس وقت تک یہ آوازیں اٹھتی رہیں گی اور ممبرز بھی روتے رہیں گے اور عوام بھی روتے رہیں گے۔ جناب سپیکر، ابھی میں آپکی اور مرکز کی ایک بہت اچھی بات پوائنٹ آف آرڈر پر Highlight کرنا چاہتا تھا اور اس میں میں چاہتا ہوں کہ انہوں نے اپنے پارلیمنٹریز کیلئے ایک اچھی بات کی ہے، وہ میں آپ سے اجازت لینا ہی چاہتا تھا لیکن آپ نے ظاہر شاہ صاحب کو اجازت دے دی تو ظاہر شاہ صاحب کی یہ بات ہے کہ اس میں پورا ملاکنڈ ڈویژن، خصوصاً شانگلہ کو شامل کیا جائے کیونکہ وہ اسی طرح سے اپنے عوام کے سامنے جواب دہ ہیں۔ یہ کہتے ہیں کہ کیسے ممبر ہو کلاس فور تو تم نہیں رکوا سکتے اور بھی باتیں تم سے نہیں ہو سکتیں؟ تبدیلیاں تو نہیں کر سکتا اور پھر ہمارے شانگلہ کی رجسٹریشن نہیں ہوئی، تو یہ جی کہاں کھڑا ہے، یہ کیسے جواب دے دیں اپنے لوگوں کو؟ تو میری گورنمنٹ سے آپکی وساطت سے ریکویسٹ ہے کہ تھوڑا دے دیں یا زیادہ دیتے ہیں، ان کے ملاکنڈ ڈویژن کو جب تک شامل نہیں کریں گے، اس وقت تک یہ آہ و بکا ہم بند نہیں کر سکتے۔ جناب سپیکر، میں اسی پر آپ سے اجازت چاہوں گا اور یہ آپ کی وجہ سے جی کہ آپ بہت اچھے فیصلے کرتے ہیں، ایسا کوئی فیصلہ کریں کہ پورا ملاکنڈ ڈویژن، جیسے انہوں نے کہا ہے اور اگر میں In detail ذکر کروں تو Repetition ہو جاتی ہے، جیسا کہ سکندر شیر پاؤ نے کہا کہ کون آدمی ہے جو اس میں نہیں آتا، اس سے Affect نہیں ہوا؟ تو اسلئے پورے ملاکنڈ ڈویژن کو Affectee قرار دیکر ہر ایک کو کچھ نہ کچھ ملنا چاہیئے۔

<u>جناب سپیکر:</u> ٹھیک ہے، شکریہ۔

(اس مرحلے پر کئی اراکین کھڑے ہو گئے)

<u>Mr. Speaker:</u> One by one.

<u>جناب فضل اللہ:</u> جناب سپیکر۔

<u>جناب سپیکر:</u> اس کو پہلے موقع دے دیں، خیر ہے۔ اس کے بعد One by one سب، تھوڑا تھوڑا جی۔ آنریبل ممبر فیض اللہ صاحب۔

<u>جناب فضل اللہ:</u> شکریہ، جناب سپیکر صاحب۔ زۂ یو تجویز ورکومہ۔ دے مخکښے ورځو کښے وزیر اعظم صاحب هم راغلے وو پیښور ته او زمونږ منسټران صاحبان هم وو او د ملاکنډ ډویژن ایم پی ایز، ایم این ایز به هم ناست وو، چیف منسټر صاحب هم وو، هغه یوه خبره کړے وه چه که رجسټریشن مونږ کوؤ آئنده نو

فوډ پیکج به ورکوؤ، هغه پچیس هزار روپئ به نه ورکوؤ۔ زهٔ وایم که هغه شروع شی، هغه خبره کړے ده نو څه نه څه خلقو ته به ریلیف ملاؤ شی، پچیس هزار د هر یو له ورکوی او که په رجسټریشن ټائم ضائع کیږی نو نادرا شناختی کارډ نن سبا هر چا سره شته، په نادرا شناختی کارډ د هر چا ته فوډ پیکج ورکړے شی، دا مسئله به ختم شی۔دا تجویز مے دے جی۔

<u>جناب سپیکر:</u> شکریہ جی۔ مولوی عبیداللہ صاحب! آپ بھی شانگلہ ؟ ہاں جی۔

<u>مولوی عبیداللہ:</u> بڑی مہربانی جناب سپیکر صاحب، آپ نے مجھے موقع دے دیا۔ میں ملاکنڈ ڈویژن میں تو نہیں ہوں لیکن ملاکنڈ ڈویژن کے بالکل قرب و جوار میں ہوں اور جو اثرات ملاکنڈ ڈویژن پر ہو رہے ہیں، وہ کوہستان پر بھی ہو رہے ہیں۔ چونکہ ظاہر شاہ صاحب کا حلقہ میرے حلقے کے ساتھ بالکل جڑا ہوا ہے، ملا ہوا ہے، میں گواہی دے دیتا ہوں کہ جب بھی ان کے حلقے سے ہم گزرتے ہیں تو مارشل لاء کی وجہ سے اور کرفیو کی وجہ سے ہمیں بھی راستہ نہیں ملتا۔ ان کے علاقے میں انتہائی خرابی ہو گئی ہے، ان کا علاقہ بہت ہی متاثر ہے تو انہوں نے جو تحریک التواء پیش کی ہے، یہ مبنی بر حقیقت ہے، ان کے حلقے کو اس میں شامل کیا جائے۔ جتنے بھی یہ آئی ڈی پیز کے سلسلے میں، ملاکنڈ ڈویژن کے سلسلے میں جو حقائق سامنے آ گئے ہیں، ان میں سر فہرست ظاہر شاہ صاحب کے حلقہ کو آگ ہی سمجھ لیں کہ لگی ہوئی ہے، میں اسی پر عرض کرتا ہوں۔

<u>جناب سپیکر:</u> شکریہ۔ عنایت اللہ خان جدون صاحب۔

<u>جناب عنایت اللہ خان جدون:</u> شکریہ، جناب سپیکر۔ میں آپ کا مشکور ہوں۔ جناب سپیکر، ظاہر شاہ صاحب نے جس اہم نکتے کی طرف آج اس ایوان کی توجہ دلائی ہے، میں بھی اس میں ان کو سپورٹ کرتا ہوں اور میں یہ سمجھتا ہوں کہ قانونی پیچیدگیوں سے ہٹ کر جو ظلم و بربریت کی داستان ہمارے اس صوبے میں رقم ہوئی ہے اور جس مشکل اور تکلیف سے ہمارے لوگ، بالخصوص ملاکنڈ ڈویژن کے لوگ، شانگلہ کے لوگ گزرے ہیں، اس میں اضافہ کرنے کی بجائے ہمیں اس میں کمی کرنی چاہیئے اور ان کی مشکلات کو، ان کی تکالیف کو چھوٹی چھوٹی قانونی پیچیدگیوں سے اور پیچیدہ نہیں کرنا چاہیئے بلکہ ان میں کمی کر کے اور ان کو آسان کرنے کی کوشش کرنی چاہیئے۔ ظاہر شاہ صاحب نے جو Point of view اپنے علاقے کے متعلق اٹھایا ہے، وہ بالکل صحیح بات ہے کہ اگر رجسٹریشن نہیں ہوئی تو اس کا یہ مطلب نہیں کہ ان لوگوں کا نقصان نہیں ہوا یا یہ لوگ متاثر نہیں ہوئے یا ان لوگوں کو تکالیف نہیں دیکھنی پڑیں، اس کی وجوہات اور ہیں۔ اگر رجسٹریشن نہیں ہوئی تو اس کی Basic وجہ یہ تھی کہ ان کو ایک Delay وہاں پہ اس قسم کا ہو گیا، کرفیو لگ

گیا یا جو بھی ہو گیا، جس کی وجہ سے وہ لوگ نہیں آسکے، رجسٹریشن نہیں کروا سکے، تو یہ اس کی کوئی Base نہیں ہونی چاہیئے کہ جس کے اوپر ان کو ان کے Dues نہ دیئے جائیں یا ان کے جو نقصانات ہیں، اگر گورنمنٹ باقیوں کے نقصان کو پورا کرنے کی کوشش کر رہی ہے تو ان لوگوں کا بھی کیا جائے۔ تو جناب سپیکر، میں ظاہر شاہ صاحب کی اس بات کی بالکل تائید کرتا ہوں، سو فیصدی تائید کرتا ہوں کہ نہ صرف شانگلہ میں بلکہ باقی بھی، سارے ملاکنڈ ڈویژن میں جہاں پہ اگر لوگوں کی رجسٹریشن نہیں ہوئی ہے اور Genuine cases ہیں تو ان کا یہ مسئلہ حل کیا جائے، اس کو اتنا Elongate کرنے کی کیا ضرورت ہے؟ اس سے پہلے ہم Already اس قسم کے پراسس سے گزر چکے ہیں۔ جب 2005 کا زلزلہ آیا تو اس کے بعد بھی جناب سپیکر، اسی قسم کے معاملات وہاں پر چلتے رہے، رجسٹریشن اور یہ کچھ ہوتا رہا اور اس میں کافی سارے پرابلمز آئے لوگوں کو اور ہم نے Personally وہ پرابلمز Face کئے۔ اسلئے میری ریکویسٹ ہے کہ ان پرابلمز کو Repeat نہ کیا جائے بلکہ ان سے سبق حاصل کرتے ہوئے ان کی ایک تصحیح کی جائے اور ایک نیا طریقہ کار اختیار کیا جائے۔ شکریہ، جناب سپیکر۔

جناب سپیکر: جی سردار شمعون مہتاب صاحب۔

حافظ اختر علی: جناب سپیکر۔

جناب سپیکر: آپ ان کے بعد۔

سردار شمعون یار: شکریہ، جناب سپیکر۔ جناب ظاہر شاہ صاحب نے جس طرح ملاکنڈ ڈویژن کا یہاں پہ ذکر کیا اور باقی ساتھیوں نے بھی، تو میں اس میں یہ چیز شامل کرنا چاہوں گا کہ 2005 کا جو زلزلہ آیا تھا ہزارہ ڈویژن میں، اس میں اس کے بعد جو حکومت کی طرف سے وہاں کے لوگوں کو امداد ملتی رہی ہے اور وہ سب چیزیں آپ کے سامنے ہیں، اس کے اوپر بھی یہاں پہ ذکر ہوا کہ کس طرح لوگوں کو لڑزا لڑزا کے ان کو یہ پیسے دیئے گئے جو حکومت کی طرف سے مختص تھے اور میں یہ کہنا چاہتا ہوں کہ اگر اسی طرح کا طریقہ کار اپنایا گیا ان لوگوں کیلئے بھی، تو میں سمجھتا ہوں کہ اس قسم کی امداد کی پھر لوگوں کو ضرورت نہیں ہے۔ اس سے بہتر یہ ہو گا کہ وہ اپنا ہی کچھ بندوبست کرئے، بجائے اس کے کہ وہ حکومت کے آسرے پہ وہاں پڑے رہیں۔ تو میں یہ گزارش کروں گا کہ حکومت کو ایسا کوئی طریقہ اپنانا چاہیئے کہ ان کو جو مشکلات ہیں، ہمیں ان کی مشکلات میں کمی کرنی ہے، اضافہ نہیں کرنا ہے اور یکمشت ان کو ادائیگی کی جائے تاکہ جو ان کے مسائل ہیں، وہ فوری طور پر دور ہو سکیں اور رجسٹریشن کی جگہ اگر قومی شناختی کارڈ پر امداد دی جائے کیونکہ

شناختی کارڈ اسی حکومت نے دیا ہے اور ان کی نشاندہی ہے اور شناخت ہے ان کی، تو ضروری نہیں ہے کہ اس کیلئے رجسٹریشن کی ضرورت ہو۔ تو یہ میری تجویز تھی۔

جناب سپیکر: شکریہ جی۔ حافظ اختر علی صاحب!

حافظ اختر علی: بسم الله الرحمان الرحیم۔ محترم جناب سپیکر صاحب، جناب ظاهر شاه صاحب چه کوم تحریک التواء پیش کړے دے او په هغه باندے د ایوان ټولو ملگرو خبرے اوکړے، زمونږ هم دا موقف دے چه ملاکنډ ډویژن بالعموم او شانگله بالخصوص، یقیناً چه کوم هلته کښے محرومتیاگانے دی او د هغوی د وجه نه د ټول ډویژن حالات او ټول متاثرین د کوم کسمپرسی او ناگفته بهه حالاتو سره مخامخ دی، پکار دا ده چه کوم ځائے کښے د رجسټریشن عمل نه دے شوے، هلته د په آسانه طریقے سره او په سهولت سره هغه خلقو ته هغه خپل ریلیف ملاؤ شی او د هغے سره سره د ټول ډویژن چه کوم متاثرین دی او یقیناً د کومو حالاتد د وجے نه د خپلو کلو کورونه پریښودل، د شهادتونو یو لا متناهی سلسله په دغه علاقه باندے تیره شوے ده نو زۀ به صرف دومره وایم چه هغه یو شاعر وئیلے وو:

؎ وائے ناکامی متاع کارواں جاتا رہا کارواں کے دل سے احساسِ زیاں جاتا رہا

نو پکار دا ده چه دے له عملی شکل ورکړے شی۔

جناب واجد علی خان (وزیر ماحولیات): سپیکر صاحب۔

جناب سپیکر: شکریہ جی۔ جناب واجد علی خان صاحب، واجد علی۔۔۔۔۔

جناب باچا صالح: سپیکر صاحب۔

جناب سپیکر: باچا صالح صاحب، مختصر جی۔

جناب باچا صالح: شکریه، سپیکر صاحب۔ کله نه دا خبره چه روانه ده جی، نو اپر دیر کښے کوم زما د حلقے سره ډهوک دره یونین کونسل چه متاثره کړے شوے وو او دے نه کوم قوم پاڅیدلے وو او جهگړه پکښے روانه وه جی، نو د هغے په وجه چه څومره د ملاکنډ نه کوم خلق بنکته راغلے دے، د یو کس رجسټریشن نه دے شوے د هغے خلقو او نه هغه دیکښے شامل کړے شوی دی او نه هغه خلقو له څه امداد، څه وروستو سپورټ، دیکښے دے اختر له ئے لیږلے وو جی، هغوی ته

هیڅ هم نه دی ملاؤ شوی، نو دا چه دغه کوم یونین کونسل خراب شوے دے ، بیا په هغے کښے هغه قوم پخپله پاڅیدلے دے او قوم پخپله جهګړه اوکړله او قوم هغه خلق په دے مجبوره کړل چه کوم غیر ملکی وو، هغه د هغه علاقے نه اوتښتیدل، څه مړه شو، څه راغلل حکومت ته ئے ځان حواله کړو، نو د دے خلقو سره د انصاف اوکړے شی، د هغوی رجسټریشن د اوکړے شی، هغوی ته مناسب امداد د ورکړے شی او بله خبره دا ده چه د څلورو میاشتو نه ایکسچینج چه کوم وو جی د ټیلیفون، هغه بند وو، جهګړه کښے خو هغه به ریګولر بند وو، اوس هم بند دے خو خلقو پسے بلونه راځی او هغوی د دے قابل اوس نه دی چه خپل بلونه ادا کړے شی، نو دغه زمونږ درخواست دے چه تاسو-----

جناب سپیکر: شکریه۔ هغه اوشو جی، هغه خو اوشوه خبره جی۔

جناب باچا صالح: چه دغه بلونه هغوی ته معاف کړے شی او د هغوی سره څه امداد اوکړے شی۔

ڈاکٹر حیدر علی: سپیکر صاحب۔

جناب سپیکر: جی حیدر علی خان، جی۔

ڈاکٹر حیدر علی: جناب سپیکر صاحب، هغه ظاهر شاه خان چه کوم تحریک التواء راوړے دے ، مونږ د هغے حمایت کوؤ خو په هغے کښے زهٔ یوه خبره Add کوم او هغه دا چه د ملاکنډ ډویژن متاثره علاقے ، یعنی ملاکنډ ډویژن خو ډیر لوے ډویژن دے ، په هغے کښے داسے ځایونه هم شته چه چرته د جنګ هغه اثرات نه وو خو چه کوم ځائے کښے جنګ وو، هغه که شانګله ده، هغه که بونیر دے ، که سوات دے ، که اپر او لوئر دیر دے ، دا ملاکنډ ایجنسی ده، هغه ټولے علاقے د متاثره اوګرځولے شی او په هغے کښے چه کوم خلق راوتی دی او که نه دی راوتی، هغه ټول د د دغے امداد مستحق اوګرځولے شی حالانکه وزیر اعظم صاحب پخپله صوبائی دوره کښے د دے خبرے وعده کړے وه چه دا رجسټریشن مونږ شروع کوؤ، که پیسے نه شوے ملاؤ نو هغوی ته به فوډ ډسټری بیوشن کښے یعنی په راشن کښے امداد ورکړے کیږی خو ترا وسه پورے په هغے باندے هیڅ عملدرآمد نه دے شوے او یو مسلسل Delay روانه ده، نو مهربانی د

اوکړے شی، ستاسو په وساطت سره، د دے هاؤس په وساطت سره مونږ مطالبه کوؤ د مرکزی حکومت نه چه فوری طور د په دے باندے اقدامات اوچت کړی او دا خبره د مخ په وړاندے کړی۔ ډیره مننه۔

<u>جناب سپیکر</u>: *واجد علی خان صاحب! حکومت کی طرف سے کچھ یقین دہانی کرائیں۔ جی واجد علی خان صاحب۔*

<u>*وزیر ماحولیات*</u>: محترم سپیکر صاحب، ظاهر شاه خان او دا ځومره چه زمونږه معزز اراکینو دا کومه مسئله چه د هاؤس په فلور راوړے ده جی، دا ډیره ځکه اهمه ده چه دا زمونږه د خلقو د انسانی ژوند سره تعلق ساتی چه کوم خلق هلته کښے ژوند کوی، کوم نقصانات هغوی برداشت کړی دی، کوم مړی د هغوی نه شوی دی، کوم د هغوی اکانومی تباه شوے ده، ایگریکلچر تباه شوے دے، دا ټوله صوبه چه ده، دا زما خیال دے زمونږه صوبائی حکومت ته هم مخے ته ده او د دے ټول هاؤس هم مخے ته ده۔ دا کوم کوم دیکښے Lapses دی، د هغے د پاره زمونږه صوبائی حکومت یا زمونږه سوشل ویلفیئر ډیپارټمنټ یا زمونږه د دے صوبے چیف منسټر صاحب چه خپل حتی الامکان او د انتهک جد و جهد په سطح باندے مرکزی حکومت په دے باندے قائله کړے دے چه کومه مسئله زمونږه آنریبل ملگری، دوست، ظاهر شاه خان اوچته کړے ده، چه په هغے باندے عملی قدمونه پورته کړی او په دے سلسله کښے د ملاکنډ ډویژن د ټولو ایم پی ایز، منسټرز یو میټنگ زمونږ د پرائم منسټر صاحب سره شوے وو چه په هغے کښے هغه خبره چه هغه منلے ده، کوم طرف ته چه دوئ اشاره کړے ده۔ هغے کښے دا هم دی چه دوه پنځوس زرو نه څه د پاسه زیات کسان چه دی د اے ټی ایم کارډز د پاره هم چه هغوی Consider کړی چه دا به ستاسو اخرینی کسان وی چه دا به مونږه Consider کوؤ، اے ټی ایم کارډز به هغوی ته هم ورکوؤ، رجسټریشن به هم کوؤ۔ د دے نه علاوه چه څومره خلق په کلو کښے پاتے دی، څنگه چه کومو خبرو ته اشاره ډاکټر حیدر علی خان اوکړه، د هغوی به هم مونږ رجسټریشن کوؤ، د هغوی د پاره صوبائی حکومت هم خپل دغه تیار کړے دی او هغے باندے عملی قدم پورته کوی۔ هغوی د پاره خپل هوم ورک مکمل کړے دے او مرکزی حکومت وائی چه فوډ پیکج دے خلقو ته مونږه ټوټل ورکوؤ چه څومره خلق په کلو

کبنے پاتی دی، بهر نه دی تلی، بهر چه کوم خلق تلی دی، د هغوی رجسټریشن شوے دے او چه کوم خلق په کلو کبنے پاتی دی نو هغوی ته به مونږه دا Facilities ورکوؤ او د هغوی د پاره د رجسټریشن ئے منظوری کړے ده چه دا ټول خلق به تاسو رجسټر کوئ، چه د هغوی څومره فوډ پیکیج جوړیږی، هغه به هغوی ته ورکوئ نو په دے حواله باندے زهٔ خپل ملګرو ته، خاصکر ظاهر شاه خان ته، د شانګلے ملګرو ته، کوم کوم چه Affected areas دی، هغے ټولو خلقو ته هم دا تسلی ورکومه، هغه زمونږ د سوات مسئله هم ده، دا د دیر مسئله هم ده، دا د شانګلے مسئله هم ده، دا د بونیر مسئله هم ده، دا سے زمونږه اجتماعی مسئله ده خو چه اجتماعی مسئله ده نو په دے اجتماعی مسئله کبنے مونږه دوئ هم سپورټ کوؤ، دوئ به حکومت هم سپورټ کوی او انشاء الله تعالیٰ حکومت په دیکبنے سنجیده دے او دا رجسټریشن زر تر زر شروع کوی۔ زما خیال دے پرون په دے باندے میټنګ شوے دے او ډیر زر عمله به لاړه شی، هغه به دا خپل کار شروع کړی انشاء الله۔

Mr. Speaker: Insha Allah, insha Allah. The sitting is adjourned till 10 a.m of tomorrow morning. Thank you.

---

(اسمبلی کا اجلاس مورخہ 6 اکتوبر 2009 بروز منگل صبح دس بجے تک کیلئے ملتوی ہوگیا)